اصلاح میان مردمان خیر است

خداوند(ج) میفرماید:« و خوبي نیست در بسیاري از مشورت های پنهانی شان اما خوبي در مشورت کسي را است که بصدقه یا به کار پسندیده یا به اصلاح میان مردمان امر نماید.

(النساء: ١١٤)

شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریک نشراتی ارگان

صلح آورنده کذاب نیست

از أم کلثوم بن عقبه بن ابی معیط(رضی الله عنها) روایت شده که گفت: از رسول الله(صلی الله علیه وسلم) شنیدم که میفرمود: کذاب کسي نیست که در میان مردم صلح مي آورد، سخن چیزی را مي رساند و یا چیزی میگوید.

(متفق علیه)

لومړی کال | شپاړسمه گڼه | دوشنبه د ١٣٧٥ هـ ش کال د وری(حمل) د میاشتی (٢٧) | د ١٩٩٦ میلادی کال د اپریل(١٥) | د ١٤١٦ق کال ذی القعدة (٢٧)

محترم ملا محمد ربانی د طالبانو د اسلامی تحریک مرستیال، له شریعت اونیزی سره په مرکه کی:

موږ غواړو په هیواد کی بشپړ اسلامی نظام پلی کړو

د نظام ټولی عقیدوی، سیاسی، اقتصادی، اجتماعی او کلتوری چاری به د اسلامی شریعت په اصولو ولاړی وی

د ربانی دغه اعلان چی روسان د افغانستان د جگړې مسؤل نه دي، له خدای(جل جلاله) سره دښمنی، د جهاد سره خیانت او د یونیم میلیون شهیدانو له ارمانونو سره جفا ده

غواړو د خلکو دسر، مال او ناموس د ساتلو اسلامی مسوولیت سرته ورسوو، څو، د هیواد هر وګړی په آزادی سره یې له ویری او فشار څخه ژوند وکړی

د الله تبارك و تعالي د حمد او ستاینی وروسته محترم حاجي معاون صاحب «د شریعت» د دی پوښتنې په ځواب کې چې د طالبانو د اسلامي تحریك د پیل کیدلو اسباب څه وو او ددغه تحریك اهداف او مقاصد څه دي؟ وویل: په افغانستان کې مسلمانانو جهاد ددې د پاره پیل کړی و چې کمونیستان محکوم او روسان له هیوا... څخه وشړي، په نتیجه کې یې اسلامي نظام په هیواد کې پلی کړي، د خلکو سر، مال او ناموس وساتي، خو له بده مرغه د کمونیستانو او روسانو، دماتي نه وروسته په افغانستان کې د جهاد د اهدافو په خلاف یو شمیر گوندونو له خوا خپل منځی جګړې پیل شوې (دریم مخ)

د طالبانو د اسلامی تحریک مجاهدین د چغچران په لور مخ په وړاندی روان دی

هیله ده په نږدې ورځو کی به ملت د چغچران د فتحې زیری واوری

یوشمیر نامطلوبو عناصرو غوښتل چی دغور دسیمې حالات کړکیچن کړی

د شریعت اوونیزی خبریال له غور ولایت څخه خبر راکوی چی د طالبانو د اسلامی تحریك زړور مجاهدین د تولك او ساغر د ولسوالیو له فتحې وروسته د چغچران په لور مخ په وړاندې روان دی. خبریال زیاتوی د جمعی په ورځ د تولك پر ولسوالی باندې د ربانی (٤ مخ)

امیرالمؤمنین محترم ملا محمد عمر د هلمند ولایت اداری چاری وکتلی

د ١٣٧٥ هجري لمریز کال د وری په ٢١ نیټه د سه شنبی په ورځ، امیرالمؤمنین محترم ملا محمدعمر، هلمند ولایت ته شریف یووړ. زموږ خبریال د هلمند له ولایت څخه خبر راکوي چې هلمند ته په رسیدو سره امیر المؤمنین ته د هغه ولایت د والي، ملا عبدالباری اخوند د دایرو د رئیسانو او عامو خلکو له خوا ډیره هرکلي ووېل شو. خبریال زیاتوي چې هلمند ته په رسیدو سره امیرالمؤمنین د هغه ولایت له والي ملا عبدالباری اخند او د دایرو له رئیسانو سره د اداری چارو په اړه ګډوری خبری وکړی او د چارو د لا سمون په اړه یې والي او د دایرو رئیسانو ته لازمی لارښوونې وکړی. امیرالمؤمنین د ماښام په وخت بیرته کندهار ته راستون شو.

که له ربانی سره دوه تنه کمونیستان هم موجود وی، د هغه پر خلاف د جهاد فتوی په ځای ده

د امیر المؤمنین په اړه د خلکو تنقیدونه هیڅ شرعي اساس نه لری

ما هیڅکله د چا فشار نه دی منلي او بیا به هم د چا فشار و نه منم

،شیخ الحدیث مولوی تره خیل،

شیخ الحدیث مولوي تره خیل د افغانستان پر مسلمان ملت غږ وکړ چې د طالبانو د اسلامي تحریك تر شا ودریږي، ځکه د طالبانو ملاتړ پر ملت باندې فرض دی، د وحدت له ورځپاڼې سره محترم مولوي تره خیل د طالبانو د اسلامي (٤مخ)

د حج پر اهمیت رڼا واچول شوه

د اسلامی تحریك د عالي شوری سرپرست او د کندهار والي ملا محمدحسن آخند د کندهار په هوټل کښی بیت الله شریف ته د تلونکو حاجیانو لومړی کاروان ته مخه ښه ووېله.

د شریعت اوونیزی خبریال له کندهار ولایت څخه خبر راکوي چي د وری په ٢٢ نیټه د کندهار په هوټل کی (٤مخ)

د اطلاعاتو او کلتور رئیس، ملا امیرخان متقی له امریکا غږ سره په مرکه کی:

موږ له ربانی سره خبرو ته ځکه نه یو حاضر چی هغه د خبرو په وخت کی د جنګ تیاری نیسی

اسلامی تحریک له هیڅ کوم هیواد سره مشخص تړون نه دی کړی

د اسلامی تحریك د اطلاعاتو او کلتور رئیس، ملا امیرخان متقی د تیری پنجشنبې په ورځ د خپل کار په دفتر کی د امریکا غږ راډیو او د وحدت ورځپاڼې له خبریالانو سره وکتل او د هغوی پوښتنو ته یې ځوابونه ووېل. خبریال زیاتوي چې ملا امیرخان متقی د خبریالانو ددي پوښتنې په ځواب کی چې له کوم بهرنی هیواد (حلورم مخ)

د هلمند په ولایت کی یوه اندازه وسله او مهمات ونیول شول

د هلمند د ولایت په مربوطاتو کی دحمل په ٢٢ نیټه د هغه ولایت امنیتی مسؤلینو یوه اندازه وسله او مهمات ونیول. (٤مخ)

سرمقاله

آنچه بر علماء بود انجام دادند

در طول تاریخ کشور علماء و مشایخ عظام مورد امید واعتماد مردم مسلمان افغان قرار گرفته اند. والحمد لله از محك امتحان و آزمایش به نصرت ذات احدیت جل جلاله بقدر طاقت وتوان بشری پیروز بدر آمده اند و آنچه از مسئولیت دینی و دنیوی داشتند در پی انجام آن اهمال نورزیدند به خصوص در مراحلی که کشور در معرض تهدید وتوطئه، خارجی و یا آشوب داخلی قرار گرفته است همان علماء و مشایخ بوده اند که در رأس همه، قیامهای مردمی قرار داشتند و زعامت توده های مردم را در راه حفظ حاکمیت دینی و سیاسی کشور عهده دار بودند.

در گذشته ها زعامتهای حکومتی ودولتی کشور اکثراً فاقد استعدادهای فعال سیاسی و اداری بودند و از پایه های مردمی حصه، وافر و مناسب نداشتند که در مواقع حساس و دشوار تاریخی کشور از خود تحرك لازم نشان داده و یا تحولات و دیگرگونیها پنجه نرم نمایند، احساسات و عواطف مردم را به جهت درست و صواب آن مشتعل سازند. لذا بار دفاع از حاکمیت دینی و استقلال سیاسی کشور اکثراً به عهده، علماء و مشایخ کرام قرار میگرفت و ایشان هم آنچه از توان شان بوده و دراختیار داشتند در این راه دریغ نمیورزیدند.

اگر به تاریخ اسلامی کشور به امعان نظر بنگریم یافته خواهیم توانست که هیچ مقطع از تاریخ کشور نبوده که از اثر ذی جود علماء و مشایخ دینی بی بهره باشد. خاصتاً در این دو دهه، اخیر که کشور وحاکمیت دینی و سیاسی آن در اثر توطئه، کمونستهای ملحد و تجاوز باداران روسی شان مورد تهدید جدی قرار گرفت، همین علماء بودند که در راه بسیج مردم و رهبری صفوف مقاومت وجهاد در روشنی شرع انور از هیچ نوع ایثار و قربانی دریغ نکردند تا بفضل و نصرت ایزدی جل جلاله صفوف مقاومت و جهاد علیه دشمن ملحد داخلی و باداران خارجی خداناشناس روسی شان قرین با پیروزی گردید وزمینه، تشکیل یك نظام و حکومت شرعی واسلامی که یگانه خواست و ارمان جهاد و شهداء عزیز انقلاب اسلامی بود مهیا گردید و هیچ مانعی محسوسی در این راه به چشم نمیخورد و هیچ مجوز و مصلحتی ملی وسیاسی در میان نبود که مانع از تشکیل حکومتی اسلامي علی منهج خلافت شود. اما (من از بیگانگان هر گز ننالم * که هرچه کرد برمن آشنا کرد). آنچه از خیانت که در نتیجه، خود خواهی انانیت و مقاصد فاسد، شوم و جمع و تفریقهای غیر متجانس و خونین بعضی از عناصر معلوم الحال بنام جهاد و جهادگری مقابل جهاد و انقلاب اسلامی صورت گرفت و نتایج شوم و اسفناکی در پی داشت از انظار احدی پوشیده نخواهد بود و آنچه ملت مسلمان و مجاهد در جریان این بند وبازها، جمع وتفریقهای غیر اسلامی از ثمست و بود مادی و معنوی خود را از دست دادند از حد و حصر بیرون بوده و بر هیچ فرد داخلی و خارجی پوشیده نمیباشد. مصلحین، علماء و دوستان داخلی و خارجی جهاد غرض بهبود وضع آنچه در اختیار داشتند دریغ نورزیدند اما هیچ اثری بر این بدمستان قدرت از خود به جای نگذاشت و در این جریان ملت مسلمان و مظلوم همه روزنه های امید و نجات را به رخ خود بسته میدیدند و به جز امیدی از نصرت الهی دیگر امیدی بر ایشان باقی نمانده بود. تا اینکه نصرت الهی جل جلاله شامل حال ملت مجاهد ما گردید و فرزندان جوان روحانیت اسلام (طالبان) که تازه تفنگ را از شانه گذاشته رخ به مدرسه و کتاب کرده بودند باز غرض نجات جهاد، انقلاب اسلامی، ملت و کشور دست به تفنگ زدند حرکت و نهضتی را براه انداختند تا شریعت خدا جل جلاله حاکم گرده و ملت مسلمان افغان در ظل شریعت غرای محمدی صلی الله علیه وسلم از همه حقوق مسلمه، انسانی شرعی و قانونی خویش بشکل کامل و همه جانبه، آن بهره ور گردد، افغانستان به حیث یك کشور حر و مستقل سربلند، آزاد و مترقی در کنار سایر ملتها وکشورهای جهان جای از دست رفته، خود را در سطح ملی و بین المللی احراز نماید.

این تحول وانقلاب از بدؤ امر با استقبال بی نظیر مردم زجر کشیده، ما مواجه گردید و از آن به سر، مال و جان خود دفاع کردند و در کنارش قرار گرفتند.

این نهضت عظیم اسلامی و انقلابی که از متن جامعه، اسلامی افغانستان روی فتوای علماء قد علم نموده بود در کمترین فرصت به نصرت خداوندی ویاری ملت و نیروهای صالح جهادی در بیشتر از نصف کشور عملاً شریعت را نافذ وحاکم گردانیده و به یگانه هدف جهاد اسلامی و آرزوی شهداء کرام(رح) و مجاهدین جامعه، عمل پوشانیده البته این تحول و دیگرگونی انی و غیر منتظره اصلی جهادی همچون صاعقه، بود بر فرق دشمنان شریعت و نظام حقیقی اسلامی در داخل و خارج از کشور، و طبعی میشود که ایشان به هیچ شکل و نوع آن حاضر به پذیرش و قبول آن نبودند و آنچه از مخالفتها، توطئه ها ودشمنیها که در اختیار داشتند علیه آن بکار گرفتند، تا به زعم فاسد و نارس خود جلو این نور الهی و شمع مصطفوی علیه صلوة و السلام را بگیرند. اما ناخبر از آن (چراغی را که ایزد بر فروزد * هر آنکس پف کند ریشش بسوزد) تحریك طالبان با آنهمه تحرکات منفی و تبلیغات ضد اخلاقی مخالفین خود دروازه، تفاهم، مذاکره و مصالحه را که برابر باموازین و اساسات اسلامی و جهادی بود به رخ احدی از مجاهدین و دعواگران جهاد نبست و آنچه در این راه در اختیار داشت بکار گرفت ودر عین وقت تسلیم هیچ نوع فشار داخلی و خارجی مخالف حکم شریعت و منافع علیای کشور را (٢مخ)

د حج او اوقافو رئیس ملا غیاث الدین له حجاجو سره په کتنه کی:

موږ له هر ډول توپیر څخه پرته د ټولو حجاجو ته د اسانتیاو د ورکولو وعده کړی ده

کله چې حاجي صاحبان بیرته راوګرځي دری سوه ډالره بیرته ورکول کیږي

د حج او اوقافو رئیس ملا غیاث الدین د کندهار په هوټل کی د وری په ٢٤ نیټه بیت الله شریف ته د تلونکو حجاجو له لومړۍ ډلې سره وکتل. د شریعت د اونیزی خبریال له کندهار ولایت څخه خبر راکوی چی ملا غیاث الدین له حجاجو سره په دی کتنه کی هغوی ته ددې بختور سفر د مبارکۍ (څلورم مخ)

امیرالمؤمنین مجاهد ملا محمد عمر اخند قوماندان ملا عبدالسلام راکټی خپل حضور ته ومانه

له کندهار ولایت څخه زموږ خبریال خبر راکوی چې په دی کتنه کی قوماندان ملاعبدالسلام راکټی چی د لومړي کرښي قومانده هم په غاړه لری امیرالمؤمنین ته د اسلامی تحریك د مجاهدینو د جنګی مورال، استقامت او پراخې حوصلې په اړه معلومات ورکړل. زیاته یې کړه: له دښمن سره د مقابلې په لومړیو کرښو کی پراته مجاهدین ویښتیا هم د اسلامی تحریك سرښندونکی سپاهیان او ستاسو د (٤مخ)

والی هرات با هیئت پوهنتون اسلامی ساینس و تکنالوژی ملاقات کردند

در هفته، گذشته والي هرات الحاج ملا یارمحمد اخند با یك هیئت پوهنتون اسلامی سایئنس و تکنالوژی که در آن هیئت، رئیس پوهنتون محترم اسلام الدین، ابومنظر، محترم ابوعمر ، شاغلی استاد محمد علی، شاغلی استاد ابومحمد و محترم استاد محمد همایون شامل بودند، ملاقات و گفتگو نمودند.

خبرنگار هفته نامه شریعت از ولایت هرات خبر میدهد که درین ملاقات هیئت مذکور در باره، فعالیت های پوهنتون مذکور معلومات ارایه نمودند و در مقابل والي هرات از کارکردگی آنها در پرورش اولاد وطن سپاسگذاری نموده و برای شان از ایزد متعال(ج) کامیابی های مزید استدعا نمودند.

په پیښور کښی د طالبانو د نمایندګی مسؤل ملا عبدالحمید اخند زاده د مهاجرینو سره په خبرو کی:

د افغانستان مسلمانان له اسلامی نظام پرته بل هیڅ ډول نظام نه شي منلای

ټول ملت د اسلامی نظام د ټینګیدو لپاره دطالبانو له اسلامی تحریک سره ملګری دی

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك د صوبه سرحد نمایندہ د مهاجرینو له وفدونو سره وکتل او هغوی ته یی افغانستان د ستونزو په اړوند واړه او اطمینان ورکړ او د خپلو خبرو په یوه برخه کی یی ووېل: هیله لرو چی ګران افغانستان به د شرعی نظام په پاکو اوبو خړوب او سمسور شي، له دي پاك وطن څخه به ټولی ناپاکی لیری شي. (څلورم مخ)

د میدان ښار دلومړیو تدافعي کرښو په باب امیرالمؤمنین ته معلومات ورکړل شول

د میدان ښار د لومړیو تدافعي کرښو قوماندانانو مولوی محمد سلیم، قوماندان غلام محمد او قوماندان موسی د وری په ٢٤م نیټه په کندهار کی له امیرالمؤمنین مجاهد ملا محمد عمر اخند سره وکتل. د شریعت د اوونیزی خبریال له کندهار څخه خبر راکوی چی دغو قوماندانانو د میدان ښار د لومړیو تدافعي کرښو په باب امیر المؤمنین ته پوره او هر اړخیز معلومات ورکړل.

د کابل تش په نامه اداره له یوی خوا د سولی ناری وهی او له بلی خوا پر عامو خلکو بمباری کوی

د ربانی مړ ژوندی اداری بم غورځوونکو الوتکو د لوګر ولایت په بازاری سیمو سخته بمباری وکړی

د شریعت اونیزی خبریال له لوګر او میدان ښار څخه خبر راکوی چی د وری په ٢٢ نیټه د کابل د تش پنامه اداری بم غورځوونکو الوتکو د لوګر او میدان ښار کلیو او بازارونه تر سختی بمباری لاندی ونیول. خبریال زیاتوی د کابل تش په نامه اداره چي له یوی خوا د سولی ناری وهی او له بلی خوا پر عامو خلکو بمباری کو او په دی توګه یی یو حل بیا خپله څیره (٤مخ)

د مسلمانی عقیده

دوهم مخ

په اسلامی نړۍ کی د ناسیونالیزم سرطانی جراثیم

دوهم مخ

ملي گرایي در خدمت صلیبیها

ص ٢

د هند لاسوهنو ته یوه لنډه کتنه

دوهم مخ

فیصله تاریخی اجتماع بزرگ علماء دین در قندهار، شرعي بوده نه قشري وګروهي

ص سوم

په افغانستان کی د اسلام ځلاند تاریخ ته یوه لنډه کتنه

دریم مخ

د ښوونی او روزنی، اقتصادی او نوری چاری وڅیړل شوی

د کندهار ولایت په میلمستون کي د ١٣٧٥ لمریز کال د وری په ٢١ نیټه د طالبانو د اسلامی تحریك د مرستیال محترم ملا محمد ربانی په مشرۍ د طالبانو (٤مخ)

د اسلامی تحریک مرستیال، الحاج ملا محمد ربانی په مشري د توحید کمیسیون خپل کار پیل کړ

د کندهار له ولایت څخه د شریعت اوونیزی خبریال خبر راکوي چي د علماء، کرامو د نظریو د توحید او ترغور لاندی نیولو لپاره ټاکلي کمیسیون د الحاج ملا محمدرباني په مشرۍ خپل کار پیل کړ. کمیسیون د عظیم الشان قرآن (٤مخ)

یک عراده موتر پیکپ مؤسسه، آی تی سی که چهار سال قبل دزدیده شده بود، به آن اداره تسلیم داده شد

خبرنگار شریعت از پشاور خبر میدهد که : یك عراده موتر پیکپ دارای نمبر X-60-8120 مربوط مؤسسه، مابن پاکی آی تی سی به دهم ماه اپریل توسط محترم مولوی امیرجان (ثاقب) مسئول ارتباط خارجه، ولایت پکتیکا به محترم کفایت الله (ابلاغ) رئیس آن موسسه تسلیم داده شد رئیس مؤسسه، آی تی سی در حین تسلیمی موتر گفتند که موتر مربوط این مؤسسه چهار سال قبل از پکتیکا عازم پشاور بود که در مربوطات ولسوالی گومل ولایت متذکره از طرف گروپ مسلح به قوماندانی حسن نام جبراً گریختانده شد که در این (ص ٤)

دوه تنه قاتلان ونیول شول

له خوست څخه د شریعت د اوونیزی خبریال خبر راکوی ، سردار گل د گل رنگ شاه زوی چي د طالبانو د اسلامی تحریك له راتګ څخه د مخه یی څلور تنه بی ګناه مسلمانان وژلی وو او یو بل تن ککی د اسمعیل خیلو د ووواو اوسیدونکی چی ده هم د څلورو تنو بی ګناه مسلمانانو په وژلو کی لاس درلود، د طالبانو د اسلامی تحریك له خوا ونیول شول. (٤مخ)

شریعت

دامتیاز خاوند: د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریک
دتاسیس کال: ۱۳۷٤ هـ ش
د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی
مسؤول مدیر: الحاج مولوی احمدجان
تیلفون: ۸٤۰۳۷۸
آدرس: په پیښورکښی دطالبانو داسلامی تحریک نمایندگی
دیوی گڼی بیه: په هیواد کښی (۳۰۰) افغانی، په پاکستان کښی (۳) کلداری

سرمقاله ...

جهاد نشد و به اصطلاح کلرخ را در آب نه گذاشته و پر آن نگذشت، در حل و فصل قضایا که سرنوشت دنیا وآخرت ملت مسلمان افغان به آن ارتباط میگرفت. حافظی تنگریسته بلکه بر حل و فصل عملی اصرار وتاکید ورزید که شرعی و جواب گوی شرایط عینی و ذهنی جامعه وانقلاب اسلامی باشد ولی متأسفانه توان و استعداد این امر در مخالفین برای فعلاً دیده نمیشد و اوشان بر مسائل و تزدیکهایی تاکید می ورزیدند که نه سیفه، شرعی داشت و نه جنبه، عملی و نه نفع دینی و اخروی را برای ملت در بر می گرفت.

و از طرف دیگر دست درازیهای خارجی دشمنان، دین، ایمان، جهاد وانقلاب و دشمنان تاریخی کشور ما در رأس آنها، روس و هند و متأسفانه تحرکات دولت همسایه، برادر ایران حاکمیت دینی و ملی ما را شدیداً تهدید میشود واین تهدید رفتی شکل خطرناکتر را به خود گرفت.

که ربانی رئیس معزول اداره، غیر مجاز کابل روسها را با آنهمه جنایات و جرایم و خیانتهای سیاسی، اقتصادی، فرهنگی و نظامی که علیه کشورما انجام داده بود و قاتل مهاشر بیشتر از ۱۸ لک شهداء ما بودند. برآت داد و به دوستی آن افتخار ورزید واز این رهگذر بزرگترین خیانت وجنایت را علیه دین جهاد و ملت مرتکب شد، دیگر لیشد که در مقابل این خیانت بزرگ و دیگر خیانتهای دینی و ملی وی بی تفاوت ماند و از آن فروخته شده ترقع خیر برد، گرچه بی تفاوتی و اهمال آن در در تنفیذ و تطبیق شریعت در محدوده، خود از پیش ترقع را از آن سلب لموده بود و به اداره، آن شکل ورنگ یك اداره، همه جانبه سیکولر را داده بود. ربانی از روز اول عمر تنگین زمام داری اجباری خود بر کابل تا حال جرأت نتوانست که تحت نام و عنوان شریعت کار، عمل و حکم سیاسی اداری و قضایی اداره، خود اعلان دارد که شاهد خوبی و تازه یی برا ادعای ما اعدام اخیر سه تن از مجرمین در کابل بود که حکم قضایی علیه آنها از طرف مسئولین اداره، نامنهاد کابل به اساس ماده... قانون اعلان گردید و هیچ نام از شریعت در آن فیصله برده نشده بود و همچنان یکی از مسئولین بلند پایه، امنیتی کابل گفت: (حکم اعدام عادلانه بود؛ زیرا به اساس حکم قانون انجام پذیرفت نه بر اساس قانون شرعی). که از گفته، این مسئول بلند پایه، اداره، کابل [illegible] معلوم میگردد که حکم قانون شرعی عادلانه نمیباشد (نعوذ بالله منه)، و دهها مواردی دیگری که ایجاب مینمود هرچه عاجل تصمیمی مناسبی شرعی در حصه، حل و فصل قضیه، افغانستان گرفته شود و یك قدمی بنیادی و مهمی در زمینه گذاشته شود همین بود که تحریك اسلامی طالبان اجتماع بزرگ تاریخی علماء کرام کشور را در قندهار دعوت و آنها بعد از غور، تحقیق و در نظر گرفتن حقائق و شرایط عینی و ذهنی فعلی و در نظر داشت کارکردگی عملی اداره و مقام رهبری تحریك اسلامی طالبان بر مناطق و سیع تحت سلطه، شان در گذشته که همه، آنرا مطابق شرع انور یافتند. اعتماد آنهارا در حال و مستقبل بر تحریك حاصل داشت و از طرف دیگر آنهمه مواصفات شرایط وجوبی و حتی اکثر شرایط استحبابی امارت را در وجود جناب امیر المؤمنین ملا محمد عمر آخند شرعاً یافتند. و روی آن فیصله، تاریخی شرعی خود را اعلان داشتند که از جزئیات آن همه آگاهی دارند و به این لیاط علماء، و روحانیت مجاهد کشور آنچه بر آنها بود یکبار دیگر انجام دادند. (جزاء هم الله خیرا)

و آنچه بر سایر آحاد ملت مسلمان افغان به این ارتباط لازم و واجب شرعیه میباشد آگاهانه باید انجام دهند و وظیفه، خود را در قبال این فیصله، واجب الاطاعة باید دانسته راه خود را از ولعی آنانیکه تحت عناوین مختلف و بندو بازها جمع ولقربهای خرابن خیانت بزرگ را علیه جهاد، انقلاب اسلامی و ملت مسلمان قصداً مرتکب شده اند و دست اجنبی ها را به خصوص روس و هند را به کشورما دراز لموده اند جدا سازند و در کنار علماء و روحانیت کشور قرار گیرند اینست راه صواب واین است راه حق و نجات.

د مسلمانی عقیده

غازی خیل

جارلسسه برخه

مصحفونه نقل شول، او ډیر اصحابان او تابعین رضی الله تعالی عنهم د قرآن مجید په حفظ او نورو ته روزه گوگر باندی مشهور شول له دوی نه په اسلامی نړی کی بی شمیره خلکو حفظ او زده کړه وکړه.

سنت: له دي سره سره چي د سنت (حدیث) روایت زیات شو، ځینو تابعینو کرامو (رح) خانونه یو مخ ورته فارغ کړل خو تدوین یی برخه نه شو، مگر دا خبره معقوله نه ښکاریده چي له تدوین نه تر ډیره وخته پاتی شي سره له دي چي سنت د امت اکثریت د شریعت پوره کوونکی گڼل ځکه چي د قرآن مجید بیان دی او په دي خبره کی چا مخالفت نه کاوه.

دغه نیمگړتیا نه ترڅولو لومړي د امام عمر بن عبدالعزیز رحمه الله تعالی د دومی هجری صدی په سر کی پام شو او ابوبکر بن محمد بن عمرو بن حزم (رح) ته یی - چي په مدینه منوره یی والی ؤ - ولیکل چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث او سنت ولټوه او ویی لیکه، زه ویریږم چي علم به ورك شي، او ټولو والیانو ته یی دغسی فرمانونه صادر کړل په دغه دور کی د سنت د ساتنی او لیکنی په رجالو کر جناب محمد بن مسلم بن شهاب زهری رحمه الله تعالی ځانگړی مقام لری؛ په دغه وخت کی لو شیعه وو سره د حضرت علی رضی الله تعالی عنه د فیصلو په نوم یو کتاب ؤ - مگر عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د هغه اکثره برخه له منځه یوړه او قسم یی وکړ چي علی رضی الله تعالی عنه دغه ټولی فیصلی نه دی کړی.

په دغه دور کی مشهور مفتیان:

په مدینه منوره کی:

۱- أم المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها - چي ډیر احادیث یی په یاد ؤ، له نورو فقهاؤ نه حسابیدله ډیرو اصحابو کرامو به - رضی الله تعالی عنهم - په فتوا غوښتلو کی مراجعه ورته کوله - ډیرو اصحابانو اوتابعینو رضی الله تعالی عنهم له دی نه روایتونه کړی دی په تیره بیا ددی خورییی عروه بن الزبیر رضی الله تعالی عنهما او وراره یی قاسم بن محمد بن ابی بکر رضی الله تعالی عنهم، په ۵۷ هجری کال کی وفات شوي ده رضی الله تعالی عنها

۲- عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما به ورکتوب کی له پلاره سره یو ځای مسلمان شوی دی، د بدر په غزا کی وړوکی ؤ، د خندق او نورو غزاگانو ته حاضر شوی دی... د رسول الله (ص) په اثارو ډیر مین ؤ، چیرته به چي په سفر کی هغه کرز شوي ؤ دی به هلته کوزیده، چیرته به چي هغه لمونځ کړی ؤ هلته به یی لمونځ کاوه... دی د مسلمانانو د فتوی لوی امام ؤ، په فتوا او د دین په کارونو کی به یی سخت احتیاط کاوه نو ځکه بی په متنازعاتو کی فتنو کی ... هیڅ یلوی و نکړه.

له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه او [illegible] صحابانو نه یی ډیرحدیثونه روایت کړی دی [illegible] ده نه بیا ډیرو تابعینو کرامو رحمه الله علیهم د حدیثونو روایت کړی دی [illegible] زوی سالم (رح) او [illegible] رح دی په ۷۳ هجری کال کی رحلت کړی رضی الله تعالی عنهم

۳- ابوهریره، عبدالرحمن بن صخر [illegible] قبیلی څخه ؤ رضی الله تعالی عنه [illegible] عزا نه وروسته د هجرت په ۷ کال رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رامهاجر شو او [illegible] تر وفاته پوری ورسره ؤ، ډیر حدیثونه یی ورڅخه روایت کړی دی او له لویو اصحابانو رضی الله تعالی عنهم نه یی هم ډیر حدیثونه روایت کړی دی، له ده څخه بیا ډیرو تابعینو روایتونه کړی دی رحمه الله تعالی علیهم [illegible]

[illegible] ډیر لوی تابعین [illegible] حتی الله [illegible] [illegible] صحابو کرامو نه [illegible] هجری [illegible] تعالی علیهم [illegible] فتوا [illegible] دوی علم د مدینی منوری ... فقهاؤ کرامو اصحابو او پښتنو دی نه دوی نه ډیرو تابعینو رحمه الله علیهم روایتونه کړی دی. خو مشهور یی دغه بزرگان دی.

٤- سعید بن المسیب المخزومی رحمه الله تعالی علیه د عمر فاروق رضی الله تعالی عنه د خلافت په دوم کال کی زیږیدلی دی، له نورو اصحابانو رضی الله تعالی عنهم نه یی حدیثونه

[illegible] ډیر زیات شمیر احترام [illegible] روایت یی ... ده خبره یی کوله فقیه النفس ؤ د سلطان تحلی یی به اخستلی - په یوه روایت په ۹٤ هجری کال کی وفات شوی دی رحمه الله تعالی علیه

٥- عروه بن الزبیر بن العوام الاسدی - رحمه الله علیه - د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په خلافت کی زیږیدلی دی، د حدیث روایت یی ډیرو اصحابو کرامو څخه کړی دی، مگر [illegible] علم یی له خپلی خالی ام المؤمنین عائشی رضی الله تعالی عنها څخه زده کړی دی؛ په [illegible] ثابت حافظ ؤ، دده زوی [illegible] او نورو راشیو یی زهری، ابوالزناد او نورو [illegible] روایتونه ورڅخه کړی دی، په ۹٤ هجری کال کی رحلت شوی دی.

٦- ابوبکر بن عبدالرحمن (رض) بن الحارث المخزومی رحمه الله تعالی د حضرت عمر (رض) په خلافت کی زیږیدلی دی، له خپله پلاره او نورو اصحابو کرامو (رض) څخه یی روایتونه کړی دی، له ده نه زهری (رح) او نورو تابعینو (رح) روایتونه کړی دی. دی ثقه او حجت، فقیه او امام ؤ، ډیر روایتونه یی لرل ډیر سخی، ډیر صالح او عابد ؤ، د قریشو په - راهب - باندی مشهور ؤ، په ۹٤ هجری کال کی وفات شوي دی - رحمه الله تعالی علیهم -

دغه شیء عالي ... کي لا تقه اولو دی په ... ملي شوی چي په مسئله کی په د حدیث او اثر روایت نه وورته رسیدلی یا به ورته رسیدلی ؤ مگر په سند باندی به یی باور نه و راغلي او یا به ددغه روایت په مقابل کی بل معارض روایت ورته رسیدلی ؤ نو هغه به یی په قیاس باندی فتوا ورکړه او دغه فتوا به له هغه حدیث او اثر څخه مخالفه وه چي ده ته به رسیدلی نه ؤ، یا به رسیدلی ؤ، خو په سند به یی باور نه ؤ راغلی، او یا به یی ددغه روایت بل معارض روایت منبدلی ؤ چي له دسه نه به هغه معارض پیاوړی ؤ، ددی خبری مثال هغه دی چي یو وخت امام ابوحنیفه رحمه الله او امام ابوعمرو عبدالرحمن او زاعی د شام لوي محدث - چي په ۱۵۷ هـ کی وفات شوی دی رحمه الله تعالی - په مکه مکرمه کی په دارالحناطین نومی ځای کی سره یو ځای شول، او زاعی رحمه الله تعالی امام ابوحنیفه رحمه الله تعالی ته وویل: «ولی رکوع ته دکوزیدو او راپورته کیدولو په وخت کی لاسونه نه پورته کوئ؟» امام ابوحنیفه (رح) ورته وویل: «ځکه چي له رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم څخه په دغه برخه کی صحیح روایت نه دی راغلی.» او زاعی رحمه الله ورته وویل: «مانه محمد بن مسلم بن شهات زهری (رح) وویل چي مانه سالم د عبدالله بن عمر (رض) زوی د خپل پلار له روایت نه حدیث ویلی دی چي - بی شکه رسول الله صلی الله علیه وسلم به لاسونه پورته کول چي لمونځ به یی پیل کړ او رکوع ته د تللو په وخت کی او بیرته د راپورته کیدلو په وخت کی.» امام ابوحنیفه (رح) ورته وویل: مانه حماد له ابراهیم نخعی (رح) نه، هغه له علقمه او اسود (رح) نه، هغو دواړو له عبدالله بن مسعود (رض) نه حدیث ویلی دی چي - رسول الله صلی الله علیه وسلم به لاسونه نه پورته کول مگر یوازی د لمانځه د پیل په وخت کی، بیا به یی هیڅ داسی نه کول.» او زاعی رحمه الله ورته وویل: «زه د زهری له روایت نه هغه د سالم بن عبدالله بن عمر (رض) هغه له خپل پلار نه هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه حدیث درته وایم - یعنی دومره لوی لوی امامان دی او دغه سند په سلسلة الذهب سره شهرت لری - او ته وایی مانه حماد له ابراهیم (رح) نه حدیث ویلی دی؟»

امام ابوحنیفه رحمه الله په ځواب ورته وویل چي: «حماد (رح) له زهری (رح) نه زیات فقیه دی او ابراهیم (رح) له سالم نه زیات فقیه دی او علقمه (رح) په فقه کی له عبدالله بن عمر (رض) څخه کم نه دی که څه هم عبدالله (رض) د اصحابی توب فضیلت لری او د اسود (رح) خو تر ډیرو خلکو زیات فقهی فضیلت دی او عبدالله بن مسعود خو عبدالله بن مسعود دی.» او زاعی رحمه الله نور چپ پاته شو. له دغه سوال او ځواب نه دا خبره جوته کیږي چي ټول مجتهدین د حدیث ترڅنگ ولاړ دي خو چي په روایت باندی یی باور واشی.

لنډه دا چي ددغه - دریم - دور اهل السنت والجماعت مجتهدین په اهل حدیث او اهل رأیه (قیاس) وویشل شول اود فقه علم لا هغه د تدوین او ترتیب مناسبت مقام ته نه ؤ رسیدلی.

په دغه دریم دور کی اجتهاد.

د قرآن مجید او سنت حال:

قرآن مجید الله تعالی د - خلفا وو راشدینو رضی الله تعالی عنهم په لاس باندی له ضایع کیدلو نه وساته، په هغه شان به لرستل کیده، لکه چي د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په مصحفونو کی لیکلی ؤ، له دغو مصحفونو څخه نور ډیر

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

عبدالرحمن احمد هوتکی

(قسمت دوازدهم)

قبلاً اشاره کردیم که [illegible] قوم پرستی یك نوع برتر [illegible] شده قیشرانند که یك ملت و قوم پرستی و قوم پرستی ایمان و یقین داشته [illegible] تجاوز و تعدی نکند و یا نخواهد که آنتور نمایند و به جز از خود دیگرانرا تحقیر و تذلیل نمایند، مثلیکه یك شخص به جز [illegible] بگذارد و بپوشد و [illegible] لازم حیات ناسیونالیستی [illegible] دیگر ملتها [illegible] نماید، تا زنده گی ملی [illegible] خود حفظ نماید، دراقوام و ملتهای [illegible] سر شار از جزبات ملی گرایی شده [illegible] ملتهای شرقی و آسیایی [illegible] انزجار در آنها توجه شده بود [illegible] اقوام شرقی به چشم حقارت [illegible] غرض استعمار سیاسی و اقتصادی [illegible] رقابتهای شدید میان دولت های اروپایی که بر مبنای ملت پرستی بر راهد ها [illegible] کوچك کوچك تبدیل شده بودند [illegible] و یکسره غرب در مقابل شرق به [illegible] دشمنی مبدل گردید، استعمار و امپریالیزم غربی همه جهدرا به یك صندوق [illegible] اجائیکه در [illegible] ملتها و [illegible] و دشمنی میان حکومتهای غربی [illegible] کینه و آهنگ در جائیکه اسلحه و [illegible] جنگ مورد پسند خود را جور میکنند مبدل گردانید.

مبارزات ملی گرایی ملت پرستان غربی که در نتیجه، مؤفق به انقلاب بزرگ انقلاب کبیر فرانسه) گرویده بودند و ملت خواهی [illegible] حیث یك نظریه و مکتب سیاسی دارای اصول و ضوابط مشخصی ابراز نموده بود و [illegible] غربی را که رابطه و ریشه وثیق نژادی با [illegible] کهن غربی (یونان و رومی) داشت به اصول [illegible] گانه (دیموکراسی، ناسیونالیزم، و سیکولریزم) متکی گردانیده بود [illegible] فاشیستی و امپریالیستی و تعصبهای [illegible] علیه ملل شرقی و همچنان سبب جنگهای خونین میان خود دول غربی [illegible] رقابت (استعمار کردن) ملتهای شرقی [illegible] بشریت به فاجعه، ننگین و خونین جنگهای جهانی اول و دوم مواجه شد و آنچه از [illegible] مالی و جانی در این جنگها بر بشریت [illegible] گردید از حساب و کتاب دقیق بیرون [illegible]

[illegible]

میگویند و فرق میان ناسیونالیزم شرق و غرب نهایت زیاد است. ناسیونالیزم اروپا زاده، رقابتهای کشور های اروپایی در قرن ۱۹ و حالات اجتماعی، سیاسی و اقتصادی آن وقت و منطقه میباشد و ناسیونالیزم شرق محصول شرایط خاص کشورهای شرق است که سعی برای اثبات و ساختن وجود خود را درحالی مینماید که وجود سایر اقوام، نژاد ها و ملیتها را نفی نمیکند و به دیده، اهانت به آن نمینگرد [illegible] ناسیونالیستهای شرقی کوشش مینمایند ثابت نمایند که ناسیونالیزم شرق همچون ناسیونالیزم غرب منجر به فاشیزم، دیکتاتوری، و استعمار نمی شود. چنانچه میگویند «غلطی بزرگی همه، از اشخاص در حصه [illegible] که پیدایش ناسیونالیزم یا ملت پرستی [illegible] در تمام مناطق تقلید غرب میدانند علم، فرهنگ، تکنالوژی و غیره آثار غرب میدانند و فکر میکنند که در ممالك شرقی نیز ناسیونالیزم وسیله، فاشیزم خواهد شد، حال آنکه شرایط سیاسی، اقتصادی و اجتماعی غرب و شرق با هم نهایت متفاوت بوده و هست. غرب درمرحله، جذب و شرق درمرحله، دفاع قرار دارد. غرب حاکم و شرق محکوم غرب مشکلات مداخله و شرق مشکلات به حضور دارد.»

از لابلای سطور فوق معلوم میگردد که ناسیونالیستهای شرقی و آسیایی کوشش دارند که ملی گرایی خود را جنبه و رنگ دفاعی داده و عکس العمل استعمار تلقی نمایند، و میان ناسیونالیزم شرقی و غربی جدائی و فرق قایل شوند، درحالیکه اوشان ناسیونالیزم را در کنار سایر ناسیونالیستها از نگاه تاریخی به دوقسم تقسیم می نمایند.

الف) [illegible] شعوری که پیرامون تعریف و [illegible] آنها در بحثهای گذشته یاد آوری صورت گرفته [illegible] در اینجا تنها میخواهیم بگوییم که ناسیونالیزم به حیث یك مکتب و نظریه سیاسی (ناسیونالیزم شعوری) که دارای شرایط و اصول مشخص سیاسی و اجتماعی میباشد در نتیجه انقلاب کبیر فرانسه به میان آمد [illegible] منشأ همه حرکتهای به اصطلاح [illegible] ناسیونالیستی گردید بلکه به ادعای ملی گرایان مبارزات وحرکتهای تاریخی ملی گرایان [illegible] پرستان غربی بود که سبب انقلاب کبیر فرانسه گردید.

(ص ٤)

په تیرو دوو لسیزو، په افغانستان کی

د هند لاسوهنو ته یوه لنډه کتنه

شاه جهان سرداری

(شپږمه برخه)

مجاهد ولس دښمنانو هغوی په شا وبول او شایست به یی ورتیه ویلو او هم به یی ورته د وطن د ورانولو او د ولس د تنلولو لپاره کافی مقدار وسلی او سامان آلات ورکول.

هند د روسانو په امر اوله فرصت څخه په استفادی سره په کابل کی د لوټمار کمونیزم مرستی ته راودانگل او زموږ د بی گناه ملت د وژلو، ټکولو، لوټولو، شړلو، خوړولو او کړولو په لار کی یی ددی ناوړه اعمالو دعاملینو څخه خپلی هیڅ ډول مرستی و نه سپمولی.

د ربانی د لاسپوځی اداره، گړ سره د هندوانو مرستی یوازی هغی ته د وسلو او مهماتو په ورکولو یی نه راټولیږی بلکه ددغه مرستو ترڅنگ د هغی سره د افرادو او متخصصو نظر، وروا، شوه مشاورینو د ورکولو مرستی هم کړی دي.

د ربانی سره د هند د مرستو حقیقت په ډیرو نړیوالو مطبوعاتو کی انعکاس موندلی خو ترڅنگه چه موږ پخپل دسترس کی یوازی د شهادت جریده لرو نو په دغه رابطه به د هغی په ځینو ریپوټونو قناعت وکړو.

که څه هم چه د شهادت د جریدی د ریپوټونو حقیقت او رشتینولی د سوالونو لاندی ده او زیاتره یی د تخمین او تبلیغ زیږنده ده خو د ربانی سره د هند د مرستو د ریپوټونو په رابطه د شهادت [illegible]

[illegible]

[illegible] چه موږ یی په رښتینولی [illegible]

د شهادت جریدی پخپله ۲۹۲ گڼه کی د

طالبانو د [illegible] ... له خولی ویلی چي زموږ سره وی داسی شواهد شته چي هندی پیلوټان د طالبانو د اسلامی تحریك د خواکونو موږچلی بمباری.

همدا راز دغه جریده پخپله ۹٦٤ گڼه کی لیکلی دي: د پاکستان د خارجه چارو وزیر سردار آصف احمد علی ددی خبری تائید کړی چي د هند او ربانی تر منځ سیتی اړیکی موجودی دي او هند د ربانی سره هر ډول مرستی کوي.

د شهادت جریده پخپله ۹۲٦ گڼه کی د پاکستانی مطبوعاتو په حواله لیکي چي د هند حکومت ربانی ته شل جنگی الوتکی ورکړي چي د هغو [illegible] یی په کابل و [illegible] په هوایی میدان کی ځای پر ځای شوی دي. جریده وایی دغه طیاری چه میگ ۲۱ او میگ ۲۷ دوله طیاری یکی شاملی دي د هندی پیلوټانو لخوا استعمالیږی او د کابل اداره یی د خپلو مخالفینو د سنگرونو د بمبارولو لپاره په کار راوړی.

دغه جریده پخپله ۹۹۲ گڼه کی د خپلو مؤثقو منابعو لخوا لیکی چي په تیره ورځو کی یوه لویه هندي الوتکه چه په نوټونو بار ؤه د بگرام هوایی ډگر کی راکوزه شوه او د هاشمی به ملگرتیا دری هندی مشاورین هم کابل ته راول. [illegible] [illegible] راوړه کیږی، هغه هم له هند څخه کابل ته را نقل کړی شوی دی.

دغه جریده پخپله ۹۹۳ گڼه کی ریوټ ورکوی چي د ربانی د اداره گړ سره هندی او روسی مشاورین یو ځای په کار بوخت دي او د هند او روس د استخباراتو شبکی په گډه سره د ربانی د حکومت مرسته کوی، جریده زیاتوی هره شپه په مهماتو او وسلو بار لس الوتکی چه په هندی او روسی وسلو دکی دی د بگرام په هبوایی ډگر کی راښکته کیږی او د ربانی اداره گړ ته وسلی او مهمات راوړی.

جریده پخپله ۹۹٤ گڼه کی د پاکستان د صدراعظمی له خولی لیکی چي ربانی د روس او هند څخه مرستی ترلاسه کوی.

په ۹۹۹ گڼه کی دغه جریده لیکی د کابل د سقوط په صورت کی ربانی تصمیم نیولی چه هند ته پناه یوسی او ددی کار لپاره یوه ځانگړی هندي الوتکه د کابل د هوایی ډگر په یوه کنج کی ولاړه ده چي د پرواز په وخت کی به یی له هند څخه یو تعداد راپورته شوي الوتکی بدرگه کوی.

دغه جریده پخپله ۱۰۰٥ گڼه کی لیکی چي هندی مشاورینو په مشهد کی د اسماعیل سره ولیدل او په هرات گی د یرغل مشوری ورکړی.

جریده پخپله ۱۰۱۲ گڼه کی وایی چي د هند واکمنو ډاکتر عبدالرحمن ته د هر ډول همکاری ژمنه ورکړه او هغه ته یی وویل چي موږ ستاسو هری مرستی ته چمتو یو.

[illegible] د ربانی سره د هندوانو د ځینو مرستو یادونه [illegible] یا اولی الابصار»

د سیکولیریزم خطرته پام کوی!

په اسلامی نړی کی د ناسیونالیزم سرطانی جراثیم

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

اتمه برخه

وراندی بی ادبه الفاظ استعمال کړی چي په هغه دی کافر شوی او واجب القتل دی.»

په دی برسیره د امان الله د سیکولر او سوسیالستو ملگرو له خوا عملاً د الحاد، سوسیالیزم او روسانو د غلامی د مفکورو د خپرولو کار په تندی سره روان ؤ. چی په دی کار کی د امان الله د حکومت د خارجه چارو وزیر محمود طرزی له ټولو نه مخکی ؤ. طرزی په یوه لیك کی چي په د۱۲۹۸ ش کال د کب په میاشت کی یی د روسیی د شوروی جمهوریت د سوسیالیستی فدراتیف د خارجه چارو د ملی کمیسار. ال. و. چیچرن په نوم لیږل، د روسانو د سوسیالیستی استعمار د پراختیا د پاره د افغانستان دوستی او خپله همکاری داسی څرگندوی: «...زیرا استحکام مناسبات دولت بهیه شورای روس با دولت علیه افغانستان نه تنها فائده متقابل دولتین را دارا است بلکه برای تمام عالم انسان خیر و سعادت بار میدهد. شرق وسطی که درمیان یك ظلمتی مانده بود، ممکن است که بواسطه، همین استحکام مناسبات روشنی بخش دیده ایام گردد. کذالك شوروی روس نیز اغلب احتمال است که به واسطه، همین دوستی با دولت افغانستان بتواند که بر مقاصد خود در شرق و غرب کامیاب آید. من بآخر درجه بآن جناب هم انکارم که بدرجه ممکن در راه این ارتباط که خیر عالم انسان در آن است کوشش ورزم.»

(مناسبات افغانستان و اتحاد شوروی ۹مخ)

د دولت په سطح دغه ډول فکری او عقیدوی همکاری روسانو ته په داسي وخت کی ورکول کیږی چی د افغانستان خلك سپین ږیری او علماء، خپل ځوان غازی امان الله خان ته د اسلامی خلافت د اعلانولو او په سیمه کی د هیوادونو ترمینځ د یوه اسلامی اتحاد د جوړولو چی مشری یی د افغانستان په غاړه وی، مشوری ورکوی. خو له بلی خوا د روسانو وزیر خارجه چیچرین په افغانستان کی خپل وزیر مختار ته په ۱۳۰۰ ش کال د جوزا په میاشت کی د یوی هدایت نامی په ترځ کی لارښوونه کوی چي: امان الله خان ریفورمونه او پروگرامونوڅلکه توجه وکړه، موږ هره ممکنه همکاری اومرسته وورسره کړو. خوتاسی په سیمه کی د دولتونو ترمینځ د افغانستان په مشری کی د اسلامی اتحاد د جوړیدو مخه ونیسي.

ددغه لیك متن په لاندی ډول دی:

«برای شما دستور داده می شود که طور مخصوص فکر خود را به امور اصلاحی و پروگرام امیر معطوف نمایید... برای عموم باید واضح باشد که در امر اصلاحات امیر

افغانستان که در مملکت خویش شروع کرده است هر معاونتی که از قدرت باشد خود داری نخواهیم کرد... از دیگر طرف شما باید این موضوع را مدنظر قرار بدهید که برای ما بعضی قابل محافل افغانی خطرناك میباشد و آنها می خواهند یك اتحادیه، وجاعی دول اسلامی درتحت رهبری افغانستان بوجود بیاورند. «او روسی له ارشیف څخه له روسي نه ژباړه شوی سند.»

(مناسبات افغانستان و اتحاد شوروی ۲۲ مخ)

د هیواد په دغه حساسو او تاریخی شیبو کی د افغانستان نیکو او جیدو عالمانو، قومی مشرانو د۱۳۰۱ ش کال په لویه جرگه کی امیر او دولت ته د اسلامی خلافت او اسلامی اتحاد جدي مشوری ورکړی، خو د امان الله سیکولر ملگرو هغه په لنگته ووهلی او د روسی او اروپایی کلتور د ترویج د پاره یی د امان الله خان فکر اماده کړ چي په اخیر کی د امان الله خان په خلاف د یوه اسلامی او ملی پاڅون دراپورته کیدلو باعث وگرځیدل. په دی توگه امان الله خان خپل مسلمان او دیندار «ملگری له لاسه ورکړل او د محمود طرزی په شانی د کمونیست مشر به، سیکولر ملت پالانو په لاس کی ولویده. ددغه حقیقت د انځورولو دپاره «غبار» د خپل کتاب «افغانستان د رمسیر تاریخ» په ٤٦٤ مخ کي د مشروطیت د دوری د یوه مبارز مولوي نجف علي خان چي امان الله خان د آزادی نه وروسته له بنده خلاص کړ او دده ملگری وو او بیا یی دده د سیکولر پروگرامونو مخالفت پیل کړ او د مخالفت له کبله د امان الله خان له خوا په شهادت ورسیده، د هغه د کتاب «پند نامه و تبریك نامه» څخه لاندي شعرونه نقل کوی:

دختران بودند درعهد امانی شوخ وشنگ
هرطرف خیزك زنان چون آهوی دشت تتار
ساقهای شان نمایان بوده مابین جراب
پیرس و لندن بوضع فیشن ایشان نثار
دست شسته ازحیا و ننگ و ناموس و شرف
ملت افغان ز شوخیهای ایشان شرمسار
از جرائیم تفریح اکثری گشته مریض
«در نواح شهر کابل بدهوا پس ناگوار
خیلی ازدوشیزگان رخت سفربربست و شد
عزم یوروپ کرده بر کالسکه آهن سوار
هرمسلمانی که دید این منظر عبرت فروز
شد بدین بیدانشی شاه افغان رشکبار
زیر دندان کرده، انگشت تأسف آه کرد
بوالعجب از غیرت اسلام شاه کوهسار
هندوان شادان و خندان هرطرف نعره زنان
مصلح ملت پدید آمد جوانی تاجدار
نوجوانان را بوه وره زبان لفظ وطن
زانکه با اسلام و دین چندان نمیدادند کار

شاه امان الله غازی خواب غفلت رفته بود
بی خبر از گردش ایام در لیل و نهار
از پی تدمیر شان احکام صادرگشته بود
در ازل از حضرت سبحان خدای کردگار
جنت الفردوس آمد زیر پای مادران
عاق مادر با مصائب دائماً گردد دوچار
صحبت سامی وطرزی آخرش ازراه کشید
راه گم کرد و بسوی راه کج شد رهسپار
ملحدان و دهریون چون مجلس آرایی کنند
«سویت» برپا کنند این منکران کردگار

(دریم مخ)

یادونه: په تیره گڼه کی مو هغه عوامل وڅیړل چه ربانی یی د روسانو او هندوانو دتأیید او مرستي وړ گرځولی دی، پدی گڼه کی به د ربانی دلوټماری او بی کفایته اداره گی سره د هندوانو د ځینو هغو نظامی او سیاسی مرستو په باره کی خبری وکړو چي ربانی ترلاسه کړی او ترلاسه کوی یی. البته ددی خبری معنی دانه ده چي موږ به دربانی سره د هندوانو دټولو مرستو په رابطه معلومات ورکړو ځکه پدی توگه به موضوع ډیره لویه او اوږده شي بلکه موږ به د هغی څخه یو څه لږ مقدار ته اشاره وکړو او نوره به خبره قیاس ته پریږدو.

د ربانی مسعود د لوټماری اداری سره د هندوانو مرسته هغه برېند حقیقت دی چي انکار کول تری لمر په دوو گوتو پټول دی.

له هغه وخته چي د کابل په ښار کی کمونیستانو پخپل ځنگ کی لوټمارانو، اخلاقی منحرفانو، چرسیانو او داړه مارانو ته ځای ورکړی له همغه وخته راهیسی دغه بی پاکه افرادو د خپل وطن په ویجاړولو، او د خپل ولس په بی عفته کولو لاس پوری کړی دی.

سره له دی چه نړیوالو مطبوعاتو ددغه اسلام دښمنه عناصرو اعمال د اسلام د مقدس دین او د مجاهدینو دپاك نامه پوری تړلی، خوحقیقت دخبري دا دی چه دغه کاروانه ډول د کمونیزم د بقایاؤ او لوټماری ائتلافی اداری څخه سرچینه نیسی او مجاهدینو ته د هغی منسوبول یوه لویه گناه ده او زموږ د غیرتی ولس سره ستره جفا ده.

پدی تیرو ځلورو کلونو کی چه به هر خومره ددغه ائتلاف د عناصرو هغسره اعمال زیاتیده خومره به د افغانستان د [illegible]

دامان الله دسیکولر پلانونو په خلاف دخلکو پاڅون

[illegible] الله خان د آزادی مفکوره د سخته تائید او د عمل په [illegible] یی د افغانستان پاتورو او بالیانه خلکو د انگریزی استعمار په خلاف هر راز قربانی ورکړی، خو یی هیواد د انگریزانو له تسلط څخه آزاد کړ، امان الله خان دعوامو او خواصو په زړونوکی ډیر محبوبیت درلود. خو کله چی امان الله خپله د ملت دغه شرافت او محبت ته د اهمیت په سترگه و نه کتل د خلکو په شخصی او دینی ژوند کی یی مداخلت پیل کړ، د واقعی ترقی او پرمختگ په ځای یی د ظاهری او کارتونیك اروپایی سیکولر او بدو اخلاقو ډیرامی پیل کړي نو ملت هم خپل اعتماد او احترام له ده څخه بیرته واخیست او د ځان د پت او عقیدی د ساتلو په خاطر یی دده په خلاف تحریك پیل کړ، د هیواد په جنوب او ختیز کی دغه مخالفت ډیر په تندي سره سیك واخیست. او ځای په ځای د امان الله د انحراف خبری گرمی شوی.

د ختیز له لوری د شینوارو پاڅون چي زیات سیك یی اخیستی وو، مشری یی محمد علم خان چی د ملکی جنرال رتبه یی درلوده، او د جلال آباد قومی پخوانی مشر محمد افضل خان کوله، چی د یوی اعلامیی په ترځ کی یی د امان الله خان په خلاف خپل شکایتونه خلکو ته څپاره کړی وو. ویك ادمك دغه نیوکی د خپل کتاب په ۲۰۰ مخ کی داسی لیکی:

۱- د امان الله خان قوانین له شریعت سره مخالف او د هغه سپکاوی دی.

۲- په کښی شواهدو او دلایلو تاکید کول او شفاهی گواهی پیمځی له منځه وړل.

۳- په قرآن کی د څلورو ښځو د نکاح په باب حکم لغو کول او په یوه ښځه کی محدودول. ٤- د دولت په ماموریتو باندي جبری طلاق تحمیلول.

٥- د ښځو د ویښتانو کمول، د پکړی او پردی یی احترامی کول او د ښځو لاسونه او مینه لوخول.

٦- د ښځو نقاب او چادری له منځه وړل.

۷- اروپا ته د افغانی [illegible] ورلیږل.

۸- د جمعی د ورځی تعطیل چی د مسلمانانو دعبادت ورځ ده، په یکشنبه باندي بدلول اچی د صلیبیانو د عبادت ورځ ده.)

۹- په حکومت کی د رشوت او تخریبکاری زیاتیدل.

۱۰- د تنثارتونونو او سینماگانو جوړول او پرانستل.

اعلامیه دا هم وایی چی د لوی جرگی په غونډه کی امان الله خان د حضرت محمد (ص) په باب د پولو مشرانو په

مور غواړو په هیواد کې ...

چې اسلامي جهاد یې له خپل مسیر څخه منحرف کې خلکو ته د خدمت کولو، عدل او انصاف ورکولو په ځای ظلم، بې دیني، لوټماري، د خلکو مال او ناموس چور کول او د بې ګناه انسانانو وینې تویول پیل کړل، وضعه ډېره خرابه شوه، لارې ټولې بندې شوې، حالات داسې له کنټرول څخه ووتل چې نور د پادرګه او یا احساسه مسلمان د پاره بې طرفه کښیناستل جرم وو، ملت ته هیڅ داسې یوه مرجع پاتې نه وه چې فریاد او استغاثه ورته ورسوي.

هغه ؤ چې د طالبانو اسلامي تحریک د مدرسې له سپیڅلي او پاک چاپیریال څخه دوباره د وضع د اصلاح، د ظلم او فساد د لرې کولو او اسلامي جهاد له انحراف څخه د ساتلو په خاطر جهاد پیل کړ، او د ملت فریاد او استغاثې ته یې د مرستې ځواب ورویلو. موږ غواړو په هیواد کې داسې یو اسلامي نظام پلې کړو چې سیاسي، اقتصادي، کلتوري، اجتماعي او عقیدوي ټولې چارې یې د اسلامي شریعت په اصولو باندې ولاړې وي موږ غواړو خلکو ته د سر، مال او ناموس د ساتلو اسلامي مسؤلیت سرته ورسوو. د هیواد وګړي په آزادۍ سره یې له کومې ویرې او فشار څخه ژوند وکړي، د خپل هیواد د جوړولو په هکله نظر ورکړي، فکر وکړي او کار وکړي.

په افغانستان کې د ایران د حکومت د مداخلو او د رباني حکومت د بې ځایه غیر قانوني ملاتړ په اړوند د یوې پوښتنې په ځواب کې محترم حاجي معاون صاحب وویل: د ایران حکومت د افغانستان په داخلي چارو کې مداخلت کوي، په دې اړوند موږ په وار وار نړیوالو ته ثابت اسناد ښودلي دي، خو له دې ټولو سره سره د یوه اسلامي ګاونډي په صفت موږ د ایران سره د ښو اړیکو غوښتونکي یو، موږ غواړو چې له ایران سره په راتلونکې کې د اسلامي ورورولۍ په فضا کې ژوند وکړو، خو د ایران حکومت ته پکار دی چې د رباني د غیر قانوني او غیر شرعي اداری له حمایت څخه لاس واخلي، د افغانستان په داخلي چارو کې خپله لاس وهنه بنده کړي.

په هیواد کې د اسلامي شریعت د نفاذ په اړونده د یوې پوښتنې په ځواب کې محترم حاجي معاون صاحب وویل: تاسو ته معلومه ده چې په هیواد کې د طالبانو د اسلامي تحریک د راتګ نه مخکې په دغو سیمو کې چې اوس د تحریک تر کنټرول لاندې دي، هیڅ قانون نه و ، په اسلامي شریعت باندې د هیواد مسؤلینو هیڅ عمل نه کاوه په هره سیمه کې د هرچا شخصي حکمراني وه، نـ شرعي او غیر انساني اعمال په سرته رسیدل. خو کله چې د طالبانو اسلامي تحریک دغه سیمې تر خپل کنټرول لاندې راوستلې، اوس هلته اسلامي شریعت نافذ دی، فیصلې ټولې په شرعي قانون باندې کیږي، شرعي قاضیان ټاکل شوي دي. د شرعي قانون په وړاندې د هیواد هر یو وګړی که امیر دی که مامور دی، که حاکم دی او که محکوم دی، برابر حیثیت لري.

موږ د پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) ددغه حدیث په رڼا کې چې فرمایي: «وله خپل ورور سره مرسته وکړه ، که ظالم وي او یا مظلوم وي» له مظلوم سره مرسته کوو د ظالم له ظلم څخه نجات ورکوو، له ظالم څخه یې حق اخلو، او له ظالم سره ځموږه مرسته داده چې له ظلم څخه د هغه لاس ونیسو، په ټولنه کې د یوه مسلمان او سالم غړي په توګه د شریعت په چوکاټ کې دننه ژوند وکړي او که داسې ونکړي نو د اسلامي شریعت سره سم سزا ورکوله کیږي.

د یوې بلې پوښتنې په ځواب کې چې په هیواد کې ګوندي ، لساني، نژادي ، سمتي او فرقوي اختلافونو د افغانستان اسلامي او ملي وحدت د حل د پاره څه پالیسي لرئ؟ محترم معاون صاحب وویل: موږ غواړو په هیواد کې هرډول لساني، نژادي، فرقوي او سمتي اختلافونه رفع کړو، یو موټی او متحد افغانستان جوړ کړو، په دې هکله موږ د لوی خدای(جل جلاله) د فرمان سره سم چې «مؤمنان سره وروڼه دي» غواړو د افغانستان ټول خلك د یوه ګډ مسلمان او مجاهد ملت په توګه دهر ډول اختلاف نه پرته د وقار او عزت ژوند وکړي.

ددې پوښتنې په ځواب کې چې رباني خوږوسانو ته د افغانستان له دیارلس کلنې جګړې څخه برائت ورکړی، او وایې روسان د افغانستان د تباهۍ مسؤول نه دي، محترم معاون صاحب وویل: چې رباني له اداري څخه د افغانستان د خلکو هیلې او آرزوګانې دا وې چې له روسانو څخه به د دیارلس کلنې جګړې تاوان اخلي، د هیواد د یتیمانو، کونډو، ورارو او معیوبینو اوښکې به ور پاکوي، د شهیدانو ارمانونه به ترسره کوي، خو د رباني اداری د ملت په هیلو او ارزوګانو باندې د ناامیدۍ اوبه تویې کړې، له جهاد او ملت سره یې خیانت وکړ، د ملت مشکلات یې نور هم زیات کړل، له روسانو سره یې دوستي پیل کړه، د ملت په خلاف یې له هغوی څخه پیسې او وسلې ترلاسه کړې، په دې اړوند په قندهار کې د طالبانو له خوا راکوزه شوې روسي طیاره چې له وسلو څخه بار وه اوس هم د طالبانو په لاس کې ده، روسي پیلوټان او روسان له موږه سره بندیان دي.

(٤ مخ)

د ادب ملغلرې

○

عبدالرحمان بابا

چې له مرګه بې پروا یې په هردم
دغه هسې غم دی هیر دی په کوم غم

نور همه واړه غمونه به دې هیر شي
که یو ځل دریاندې راشي دا ماتم

چې زخمي یې سبا نه مومې په تیغ
مفت موندہ شي تن ساعت هغه مرهم

د مرهم تیاري ورلره بویه
چې لاته یې داجل په تیغ کرم

چې دې تن له سرایه دروسي توښه واخله
تر دا سرای په هورته سرای نشته محکم

ددې لارې تله څه هسې آسان نه دي
مشکلات دي په هردم په هرقدم

که دې ویره شي له ظلمه له ستمه
نه هم مه کړه په هیچا باندې ستم

که امید لرې له رحمه له کرمه
ستا هم بویه په هرچا باندې کرم

له هرچا سره چې کړې هغه به مومې
د هیڅ تخم میوه نه دروسي برهم

اجر واړه د عمل په اندازه وي
دغه دواړه سره یو دي هم درهم

اوس دې ستا رضا نیکي کړې که بدي کړې
نیک و بد دې واړه کښلی شي په قلم

خدای د رزق په زیرمه مه هیر وه کلک شه
تر سرې د سرې رزق دی مقدم

که ګټې چې په حرص سره څه زیات شي
زیات به نه شي د یوې ستنې ترسهم

که هزار رنګه تالاش او تردد کړې
د قسمت شوي به نه کړې زیات و کم

زیر هوا و حرص مه کوه خدای یاد کړه
دي کافي دی د عرب او د عجم

په تا فرض عبادت د خپل ښښتن دی
نه لښکرې خزانې ملک و حشم

ټوک روټۍ یوه شړۍ درلره بس ده
نور همه واړه اسراف دی مسلم

له خوراکه غرض قوت او لایموت دی
نه چې ګوښې خورې وریژې یا غنم

له پوښاکه غرض خپل سر پټول دی
نه اطلس و سقلات تاج وعلم

دلحد د تاریکۍ علاج به څه کړې
چې نه دلته کې وریږې په تورتم

که حرص دریاندې زور شي مرګ رایاد کړه
دا علاج دی دغه رنځ لره محکم

غفلت هیڅ مناسب نه دی د سپین ږیرو
خوب روانه دی په وخت د صبحدم

مار چې سوړې لره ورځي ګوره سم شي
ته د ګور په غاړه راغلې نه شوې سم

خم قامت د دنیا کار کړې عمر واړه
او په دوه رکعته نفلونه شوې خم

ځان پخوا تر هغه وژاړه که مرد یې
چې په تا باندې ژړا کانور عالم

نور عالم چې په تا ژاړي انصاف وکړه
بې انصافه ته په څه یې خوښ خرم

که زه نه وایم ته خود سترګې ږنې کړه
کوږي خورشه ته چار پای یې که آدم

ای رحمانه لکه ته چې په خدای ګرم یې
بل به نه وي په جهان کښې هسې ګرم

د تورو بریښنا

خوشحال خان خټک

بندو بست د کائنات دې په خبرو
بو تر سله صدقه شه سل تر زرو
د همت په بال ورپر سرې الوزي
مرغه پوښه الواته کا په وزرو
ورته وایه توره کېږده په صندوق کښې
هر سرې چې مرتې وي په تلېرو
یاد پښتنې توري مرد شه یا عاشق شه
چې یادېږي په بدلو په سندرو
له یوه دریا به ښېږي فرق یې ډېر دی
که نظر کړې د دریاب په مرغلرو
چې یې غم د غلیم نشته بختور دي
خدایه ما کړې په شماره د بختورو
د «خوشحال خټک» خوښي په هغه وخت وي
چې بریښنا د سپینو تورو شي د زغرو

تیر پسرلی

ملا اسد الله حنیفي

ګلونه دي شنه نه کړل د بهار موسمه لاړې
بلبلې په غوغا دي لاله زار موسمه لاړې
ځارلي مو سیرلیه درته لاړې د راتلو دې
راغلې لږ شیبه وې د ګهسار موسمه لاړې
ویشتلي زړه پراته وو عاشقان درته له ډېره
د سترګو رپ کښې تیر شوي دديدار موسمه لاړې
یورا په زړه چاودلې خوله یې وکه ده له وینو
د شعر موسمه څه شوي غزل زار موسمه لاړې
غزل د «حنیفي» کښې به خوړ رنګ روغن پیکه وي
چې ته ترې بیرته لاړې د سینګار موسمه لاړې

پیوستون

[illegible] ګوهري

راټولیږئ عالمانو سره یو شئ
مشایخو بزرګانو سره یو شئ
د ملت وحدت دې ستاسو په وحدت کښې
د ملت خدمتګارانو سره یو شئ
غلیمان مو تیتول ورکول غواړي
راببدار شئ عاقلانو سره یو شئ
د خوبونو وخت تیر شوي وخت د کار دی
عالمانو طالبانو سره یو شئ
لوی دریاب کښې بیړۍ بیا په ډوبیدو ده
لامبو زنو او بیړیو سره یو شئ
مؤمنان ستاسو وحدت ته منتظر دي
د نبیانو وارثانو سره یو شئ
یوتر بله دوروري لاسونه ورکړئ
ای د حق دین پیروانو سره یو شئ
ګوهري ستاسو وحدت غواړي له خدایه
د اسلام پاسبانانو سره یو شئ

په افغانستان کښې د اسلام ځلاند تاریخ ته یوه لنډه کتنه

نعماني — دوهمه برخه

ولته د حضرت عبدالله بن عامر بن کریز(رض) د مهمو فتوحاتو لړۍ د ځلورو مهمو قوماندانانو په لاس په لاندې توګه ترسره شوې وه:

۱- اسلامي فوځ د حضرت امیر بن احمد الیشکري(رح) په قیادت، طوس، ابیورد، نساء، سرخس، مروه او د افغاني خراسان نورا هم ښارونه په ۳۱ هـ = ۶۵۲ میلادي کال کښې فتح کړل او د اوږدو جنګونو په پای کښې یې صلح وشوه چې افغاني لوري په اسلامي فوځ ته د وویشت لکه درهمه خرکال ورکوي.

۲- اسلامي فوځ د حضرت یزید بن خرش(رح) په قیادت، جوین، نیشاپور او د هغه سیمې نور مهم ښارونه فتح کړل.

۳- حضرت عبدالله بن خازم(رح) د حضرت عبدالله بن کریز (رض) په امره سرخس په ولایت کښې جنګ پیل کړ او پس له هغه چې د سرخس والي«دراودیه» یې واوژه او د هغه لور میشا، چې په جنګ او تدبیر کښې په خورا بهادرۍ مشهوره وه د حضرت عبدالله بن خازم په لاس اسیره شوه.

٤- د اسلامي فوځ ځلورمه برخه حضرت(احنف بن قیس (رح)) له ځان سره ملګرې کړل او په ۳۲ هـ = ۶۵۳ م کال کښې یې مروه رود محاصره کړ او د محاصرې د کمربند د ټینګولو وروسته یې پدې خبره اوریند او صلح سره وکړه چې: افغاني اړخ به هرکال اسلامي فاتح فوځ ته شپیته زره درهمه ورکوي، د مروې رود له نیولو وروسته حضرت احنف بن قیس د خپل پنځه زره کسیز اسلامي فوځ مخ دافغاني تخار په لور راواړاوه چې د لړ جنګ څخه وروسته یې بشپړ دری ولایته، تخار، جوزجان او فاریاب ونیول او پدې اوریند او صلح سره وشوه چې هرکال به افغاني اړخ اسلامي اړخ ته ځلور لکه درهمه ورکوي او حضرت احنف بن قیس (رح) پدې دری ولایاتو خپل د تره ځوی حضرت بشرین متشس) دوالي په توګه وټاکه.

پدې وخت کښې د هرات اوسیدونکو د لومړي ځل لپاره په بغاوت پیل وکړ ولي حضرت عبدالله بن عامر بن کریز (رض) د هغوی د ځپلو لپاره حضرت خلید بن عبدالله الحنفي(رح) واستاوه لدې امله چې په هرات کښې دا ځل بغاوت ډیر په زور او جوش کښې وو حضرت خلید بن عبدالله (رح) ونه شوای کړای چې دغه بغاوت په زور چپ کړي نو حضرت عبدالله بن عامر بن کریز(رض) دیته اړ شو چې پخپله ددې بغاوت د ځپلو لپاره په جنګ کښې برخه واخلي هغه وو چې پخپله د جنګ په اراده د هرات په لور روان شو او د هرات له پخواني حاکم باذان سره یې سخته مقابله وکړه او هغه ته یې سخته ماته ورکړه د ماتې خوړلو په وخت کښې د باذان له خوا د صلح غږ پورته شو په افغاني خراسان کښې د اسلامي فوځ سر لښکر عبدالله بن عامر بن کریز(رض) د هغه دغه دوالدیزه منلو په ترڅ کښې پدې صلح وکړه چې هرکال به افغاني جانب اسلامي اړخ ته لس لکه درهمه د جزیې په توګه ورکوي دغه صلح نامه حضرت ربیع بن نهشل(رح) ولیکله او حضرت عبدالله بن عامر بن کریز(رض) دستخط کړه ددې صلح نامې پوره متن علامه احمد بن یحیې البلاذري (رح) په خپل کتاب فتوح البلدان ۳۹۶ مخ کښې لیکلې دی . ددې صلحې څخه وروسته حضرت عبدالله بن عامر بن کریز(رض) د دریم خلیفه حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه د لیدو لپاره په ۳۲هـ = ۶۵۳م کال کښې له هرات څخه مدینې منورې په لور وخوځید او په افغاني خراسان کښې یې دری نوميالي لږ پهاوري قوماندانان هر یو احنف بن قیس (رح)، حاتم بن نعمان الباهلي (رح) ، قیس بن هشیم(رح) ، پریښودل د حضرت ابن عامر په غیابت کښې د قارن الخراساني له خوا په افغاني خراسان کښې د بغاوت سخت اوروته بل شول، ولي حضرت عبدالله بن خازم په ډیر تدبیر سره لاس پرې شو چې د فتنې او د بغاوت اور مړ کړي، قارن الخراساني یې دولږه او زیات پیروان یې په هغه قوځي برغل کښې له مینځه ولاړل چې حضرت عبدالله بن خازم دده په قوځي مرکز ترسره کړی ؤ، خو له بده مرغه د قارن الخراساني دغه بغاوت په افغاني خراسان کښې نور زیات خلك هم دیته وهڅول چې په بغاوت لاس پورې کړي آن تردې چې د سیستان (نیمروز) خلك هم بغاوت ته راپورته شول، سره له دې چې سیستان (نیمروز، چخانسور) روښې ځل د حضرت سیدنا عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په دور کښې په ۳۲هـ = ۶٤۳ م کال کښې د حضرت عاصم بن عمرو التیمي او د عبدالله بن عمیر الیشمي پر لاسونو فتح شوي وو او په یو اندازه خراج ورکولو صلح ترسره شوې وه ولی د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت په دور کښې د سیستان خلکو د خراج له ورکولو څخه انکار وکړ او په بغاوت یې پیل وکړ، حضرت عبدالله بن عامر بن کریز د سیستان د خلکو د تابع کولو لپاره حضرت مجاشع بن مسعود السلمي(رح) د خپل فوځ سره ولیږه ولي د سیستان دخلکو مقابله پدې وار د اسلامي فوځ سره خورا سخته وه، پدې جنګ کښې د اسلامي فوځ یوه زیاته برخه په شهادت ورسیدل او حضرت مجاشع بن مسعود (رح) دیته اړ شو چې خپل پاتې فوځ د جنګ له ډګر څخه وباسي نو همغه وو چې خپل پاتې فوځ ته یې د په شا تګ قومانده ورکړه له دې امله چې واوره او ساړه خورا زیات وو پاتې فوځ یې د یخنۍ او واورې له کبله په شهادت ورسید فتأسفانه په دغه وار اسلامي فوځ ټول له یوې مخې شهیدان شول. لدې پیښې نه دریم خلیفه حضرت عثمان بن عفان(رض) خبر شو نو سملاسي یې حضرت ربیع بن زیاد الحارثي د یو قوي فوځ په ملګرتیا له مدینې منورې حضرت عبدالله بن عامر بن کریز حضور ته واستوو ترڅو همدوی د سیستان له خلکو څخه د انتقام د اخستلو لپاره وګماری د حضرت ربیع بن حارض په رارسیدو حضرت عبدالله بن عامر همدې مناسب وباله او څه تازه دم قطعات یې ورسره ملګری کړل ترڅو د سیستان له خلکو څخه د حضرت مجاشع بن مسعود السلمي او د هغه د فوځ غچ واخلي او په زور د اسلام سپیڅلي نظام ته تابع کړي. حضرت ربیع بن زیاد الحارثي(رح) پدې لاس بری شو چې په لاره کښې څه سیمې په صلح ونیسي ان تردې چې د جنګ لمن د زرنج دروازو ته ورسیده او په زرنج کښې سختې خونړۍ جګړې پیل شوې د زیات شمیر مسلمانانو د شهادت ترڅنګ زیات شمیر سیستانیان هم ووژل شول ولي اسلامي فوځ پدې وار وکولای شوای چې زرنج تر سختې محاصرې لاندې ونیسي. کله چې د زرنج خلك له سختو خونړیو جنګونو څخه تنګ شول نو د سیستان والي پرویز او د یو بل روایت له مخې ایران بن رستم له حضرت ربیع بن زیاد الحارثي(رح) څخه د صلح او د اوریند غوښتنه وکړه حضرت ربیع بن زیاد الحارثي دده وړاندیزومانه او دوته یې ددې فرصت وورکړ چې د صلح شرطونه پخپله وړاندې کړي، پرویز یا دایران چې څه وخت ددې لپاره چې د صلح شرطونه پخپله ربیع بن زیاد ته وړاندې کړي له زرنج قلعه څخه ووت او د اسلامي فوځ مرکز ته راغلی، څه وخت چې د حضرت ربیع بن زیاد الحارثي سره مخامخ شو هغه یې ډیر په بد نظر ولید څه ګوري چې دی پخپله دسیستانیانو د مړو د جسدونو په یوانبار ناست دی او دده ملګرو د سیستانیانو په جسدونو تکیې لګولې دي اود پالښتونو کار یې ځینې اخیستی دی. پرویز پدې منظر لیدو زیات مرعوب شو او د ربیع بن زیاد الحارثي پدې خبره راضي شو چې دی به په صلح کښې زر تنه مریان پدې حالت کښې وړاندې کوي چې د هریو په لاس کښې به د سرو زرو یو جام نیولی وي په همدې خبره صلح نامه ولیکله شوه او پدې حالت سیستان یو وار بیا د حضرت ربیع بن زیاد الحارثي په لاس فتح شو«فتوح البلدان /۳۸۶ ، تاریخ سیستان /۸۲».

د حضرت ربیع بن زیاد (رح) حکومت په سیستان کښې دوځنیم کاله دوام درلود او د لیکنو مسؤل یې د اسلام نوميالي او جلیل القدر تابعي حضرت حسن بصري(رح) ؤ.

د حضرت سیدنا عمر فاروق (رض) د خلافت په دور کښې د افغاني خراسان د جنګونو عمومي قوماندان حضرت سیدنا احنف بن قیس وو ولي د حضرت سیدنا ذي النورین عثمان بن عفان له خوا بیا حضرت عبدالله بن عامر بن کریز د افغاني خراسان د والي په توګه وټاکل شو مګر حضرت احنف بن قیس (رح) بیا هم د اسلامي فوځ د ستر قوماندان په حیث په افغاني خراسان کښې پاتې ؤ، خو کله چې حضرت سیدنا علي (رض) د اسلام ځلورم خلیفه د خلافت چارې په خپلو لاسو کښې واخیستلې افغاني خراسان ته یې حضرت جعد بن هبیرة (رح) چې د حضرت علي(رض) د ما ماځوی او دده زوم هم وو د والي په توګه وټاکه او دده څخه وروسته یې حضرت عبدالرحمن بن ابزی الخزاعي تعین کړ او دی آن تر هغه وخته پاته شو ترڅو چې حضرت سیدنا علي المرتضی رضي الله عنه شهید کړای شو . اسلامي فوځ او عربي قوماندانانو دغه موجوده افغانستان له هر لوري څخه ځکه په اساني فتح کړی دی چې د افغاني خراسان خلکو د صحابو او تابعینو د لښکرو په تندبو کې د خیراو برکت اثار لیدل نو ځکه په زیاتو برخو کې خلکو له مقابلې څخه لاس اخیسته او د مقابلې څخه پرته خللد ورته تسلیمیدل، لکه نن صبا چې د افغانستان مؤمن او قهرمان ملت د طالبانو اسلامي فوځ د متعال خدای(ج) د رحمت اثار ګټې او د خیر او برکت لښې پکښې وینې نو ځکه د مقابلې پر ځای یې هرکلي ورته وايي ددې زمکې اوسیدونکو د سکندر روسي فوځ د ځکه نومیالي توب سره د سر په دره اخته کړی وه څه وخت به چې یې یو ځای ونیو نو په بل ځای کښې به ورته مقاومت جوړ شو آن تردې چې سکندر یې دومره ستړی کړی وه چې د نړۍ په هیڅ ګوټ کښې دومره نه وو ستړی شوی، چې په پای کښې ددې ملك څخه تا مراده تللی دی ، ددې خاورې او د خلکو خاصیت هم دا دی چې پردیو ته او هم د پردیو پر لاس لوبیدونکو مزدورانو ته د عبرت درسونه ورکوي چې دانګریزانو او د روسانو تاریخي شکستونه یې لوې بیلګې دي، ولي د صحابو او دتابعینو لښکر ددې خاورې د اوسیدونکو په سرونو بلکې په زړونو یې حکومت کاوه ځکه چې دوي د زړونو تړون یې الهي نظام سره راوستولی وو او دوی یې پدې لار کښې د سر او مال قربانۍ ته تیار کړي وو بلکې دوی یې د الهي دین دعوتګران هم ګرځولي وو او دوی په ذریعه یې د نړۍ پراتې برخې فتحه کړې دي چې د اسلامي تاریخ اوږدې پیښې ددې مطالبو په زړه پورې ګواهان دي، ولي دا لاړه د تکلیفونو او د زحمتونو لاړه ده څه وخت چې دحضرت ربیع بن زیاد الحارثي له دوهنیم کاله حکومت څخه وروسته د دریم خلیفه په امر مدینې منورې ته وغوښتل شو او سیستان (نیمروز) یو وار بیا له اسلامي قائد څخه خالي شو نو د سیستان اوسیدونکي یو وار بیامنحرف شول او خپل په خواني حال ته راوګرځیدل.

نیصله، تاریخي اجتماع بزرگ علماء دین در قندهار، شرعي بوده نه قشري و ګروهي

تکمله، جوادي

مسلمانیکه اولاً با تلاوت قرآن کریم و مفاهیم لغت عربي آشنایي داشته باشد، و مروري بر احادیث نبوی صلی الله علیه وسلم کرده و متون کتب دیني را دیده باشد، و در صورت عدم تعلیم و سواد با خانه خدا(مسجد) علاقه گرفته و گوش به سلفي و عالمي داده باشد ویا مصاحبت با صالحین در میان باشد، نفاق و دشمني اهل الله قلبش را سیاه نکرده باشد، به وضوح و طور آفتابي مقام عالم و جاه نشین رسول الله صلی الله علیه وسلم برای آن معلوم گردیده و به حیث مؤمن و مسلمان به عالم(ملا، طالب، شیخ) به چشمي میبیند که شریعت رسول الله صلی الله علیه وسلم به آن حکم کرده و از پیروان مؤمن خود مراعات آنرا تقاضا دارد و در مقابل از واجبات مسلمان است که به آن اعتناء کامل داشته باشد.

تنزیل کریم به این معنی می فرماید،«آیا برابر است آنانیکه میدانند و آنانیکه نمیدانند؟» اهل علم را معلوم بوده که استفهام در این آیه، مبارکه انکاری میباشد(نه) برابر نیست. یعنی علماء را در کتاب خدا و شریعت رسول الله صلی الله علیه وسلم مقام وحیثیت فردي و اجتماعي بوده که احدي از امت محمدي صلی الله علیه وسلم به آن پایه رسیده نمی تواند . رسول الله صلی الله علیه وسلم تعبیر و تمثیل آن مقام عظیم و شامخ علماء را بر غیر علماء، به صحابه، کرام خود به این معنی ارشاد می فرماید:«فضل عالم برعابد همچون برتری من(محمد)- صلی الله علیه وسلم- بر ادنای شما میباشد» خود قیاس بفرمائید که برتري عالم بر عابد(انسان صالح و متقي) همچون برتري رسول الله صلی الله علیه وسلم بر ادنای صحابه رضی الله تعالي عنهم اجمعین باشد، دیگر کجا قیاس گردد برتري عالم برانسان مسلمان و غیر عالم و آنهم غیر متقي وعابد.

دراندیشه، اسلامي راجع به جهان آفرینش و مرقعیت انسان اګرنیروی ضامن اجرایی را که باید قوانین اخلاقي برآن تکیه کند، پیدا نمائیم، می بینیم که آن همان نیروی بیم و ترس از خاوند متعال میباشد که به وسیله، آن برای اخلاق انساني یك نوع ثبات و استواری حاصل میګردد بطوریکه به کمك آن اخلاق دائماً در مسیر پیشرفت و ترقي قرار ګرفته و بوقلمون صفت هرحال به صد رنګ درنمي آید و در مسیر حرکت میکند که خواسته، خاوند متعال، [illegible] آن و مصالح خلق الله در آن نهفته باشد، تنزیل کریم این صفت عالي و مهم اخلاقي و اجتماعي را دروجود علماء نشاندهي فرموده به این معنی ارشاد می فرماید: «و جزء این نیست که خاص از خداار بندګانش علماء، میترسند» از [illegible] ارشاد رباني(جل جلاله) به وضوح معلوم ګردیده، نیروی که درجای تصمیم ګیری و فیصله برای انسان ثبات و استقرار فکری و مزاجي می بخشد و آنرا توفیق میدهد که عاطفي و احساساتي عمل نکند آنرا نیروی ترس) از خاوند است ، که در وجود علماء، حق تخصص آن بزبان قرآن معلوم ګردید از آن آګاهي حاصل میګردد که فیصله ها و تصمیم ګیری علماء، آن هم بشکل اجتماعي قرین با واقعیت دیني و مصلحت فردي واجتماعي امت میباشد.

منزلت و مقام انسان در این جهان از نظراسلام این است که او خلیفه، الهي است یعني در زمین نائب و نماینده، خاوند درتطبیق احکام او میباشد. و تمام تصرفاتیکه در اینجهان مینماید وفق خلافت و نمایندګي میباشد و تصرفاتي است که خاوند روی این اصل به اوارزاني داشته است. درکشوریکه چنین نظریه سیاسي موجود است جز خلافت انسانیت ورفعت نظارت سلطنت خاوند نظام دیګری پیدا نمی شود و قهراً هدف مطلوب و نهایي چنین کشوری و ملتي تحقق بخشیدن مشیئت و اراده پروردګار میباشدو مردمي چنین کشوري پیرو هدایت و رهنمایي خاوند میشوند و بدون اینکه از مرز خاتیکه او برایش تعین فرموده تجاوز نمایند. اسلام تصدی این مقام را منوط به فرد معین یا خانواده یا طبقه، خاصي نمیداند. بلکه همه افراد اجتماعیکه به مبادی و اصول اساسي اسلام(توحید و رسالت) ایمان داشته باشند و شایستګي ابراز کفایت و استعداد انجام هرچیزی را که کلمه خلافت شامل آن است، داشته باشند در تصدی امر خلافت شریك و مساوی هستند. استعداد اتم و اکمل خلافت الهي در زمین در وجود انبیاء علیهم الصلواة والسلام موجود بوده و او شان بوده که در تمام جوانب حیات فردي و اجتماعي ، سیاسي، دیني و شرعي و تکویني خلافت خدا را در زمین تمثیل و تحمیل میګردانند که این سلسله پر نور اتم و اکمل خلافت به رحلت آنحضرت صلی الله علیه وسلم خاتمه پذیرفت و بعد از آنحضرت صلی الله علیه وسلم به صحابه، کرام بطور میراث رسید، که در آن عصر اطلاق خلافت در بعد سیاسي بشکل صحیح و همه جانبه آن تنها و تنها به دوران زمامداری خلفاء اربعه رضی الله عنهم اجمعین میشد ویس که عدالت بشکل اکمل و اتم آن در آن دوران موجود بود، و بعد ازآن اطلاق خلافت به شکلیکه بر خلفاء اربعه شده و محصور به آنها بود، بر دیګران نشده است بلکه اطلاق امارت علی منهج خلافت بر دیګر زمام داران مسلمان و تابع اسلام الي یومنا هذا شده است و میشود، و یك اصطلاح مانوس و مروج تاریخي، اسلامي است و همچنین دو اصطلاح سیاسي است (خلافت و امارت) که در اسلام و بین مسلمین متعارف متداول بوده ونظامهای مروج امروزه، تاریخ و اصل اسلامي ندارند بلکه کاپي ی از نظامهای اجنبي میباشد. طوریکه ګفته شد فرد اکمل و اتم خلافت در زمین ودر جای تنفید و تمثیل شریعت الله در بعد دیني و سیاسي آن انبیاء(ع) بودند، بعد از آنها این میراث مقدس به صحابه، بعد از آن به تابعین تمه به تبعه به تبعه و همه آنها که بر او از جانب شریعت اطلاق عالم میګرده میرسد.

چنانچه آنحضرت صلی الله علیه وسلم در این

مزوز به این معني ارشاد مي فرماید:«علماء ورثه انبیاء میباشند» و الله از انبیاء (ع) درهم و دینار به میراث نمانده [illegible] رسالت به میراث مانده است که علماء [illegible] دارند، [illegible] علماء، وحیثیت دیني واجتماعي علماء [illegible] ومسئولیت [illegible] دیګران به آن [illegible] مکلف میباشد که از آنها [illegible] تنزیل کریم به این معني ارشاد مي فرماید: «واطاعت کنید خدا را واطاعت کنید [illegible] و صاحبان امر خود را» که اکثر مفسرین [illegible] این آیه علماء را [illegible] اطاعت خدا ورسول [illegible] معروف [illegible] مواصفات و شروط امارت [illegible] کشوری از علماء [illegible] به اوشان بیعت شرعي امارت صورت بګیرد در آن صورت هیچ اختلاف [illegible] الامر واجب الاطاعة مسلمین میباشد.

اجتماع تاریخي قندهار که در آن به این تعداد علماء و [illegible] دیني که در تاریخ کشور دیده نشده است [illegible] همه اطراف و اکناف کشور و دیار هجرت علماء [illegible] و مدرسین مشهور و مسلم حدیث، تفسیر، فقه و سایر علوم دیني و شرعي بوده اند [illegible] و دانشګاه های دیني داخل کشور و بیرون [illegible] هجرت) به اوشان [illegible] فیصله شرعي اوشان به [illegible] کشور الهم درحل کسي که [illegible] شریعه شرعي، سیاسي و اجتماعي [illegible] به خصوص در [illegible] موجود بوده بدون هیچ [illegible] شرعي و دیني بوده و واجب الاطاعه [illegible] مسلمان میباشد.

[illegible]

په اسلامي نړۍ کې د ...

په یورتنیو شعرونو کې مولوی صاحب د امان الله خان انحرافونه په ګوته کړي دي. په یوه شعر کې یې اشاره کړې ده چې د خپلې مور له خوا دهغو اعمالو په سبب عاق شوی وو. ویل کیږي چې مور یې ډیره نیکه ښځه وه، او په وروستنیو دوو بیتونو کې اشاره کوي چې امیر د ساسي، محمود طرزي او نورو دهریانو په ملګرتوب کې لویدلی ؤ چې غوښتل یې په افغانستان کې د روسیې په شان کمونیستي دولت جوړ کړي

که څه هم میرغلام محمد «غبار» د مولوي صاحب دغه شعرونه رهرجن بللي دي، ځکه چې دی خپله یو سیکولر لیکوال دي، د«جوانان افغان» د ولي غړی ؤ. په خپل کتاب کې یې اسلامي تحریکونه او د دیني عالمانو فعالیتونه ارتجاعي خوځښتونه بللي دي، او سیکولر الحادي تحریکونه یې مترقي یاد کړي دي او د محمود طرزي د افکارو یې سخت تائید کړی دی. خو له دې ټولو سره سره دی هم د امان الله خان د دغو بې ځایه مترقي پروګرامونو څخه تنګ راغلی او د خپل کتاب په ۸۱۲ مخ کې دغه وضعه داسې انځوروي: «وقتیکه شاه برګشت(از اروپا) آنمرد ګذشته نبود، او بسیار خود رای و خود خواه و مغرور شده بود، و با اقدامات عجولانه یې که نمود بزودی افغانستان را مستعد یك انقلاب منفي نمود... کالر و نکتایي و تحمل و فیشن جای بساطت و البسه [illegible] و یخن بسته را ګرفته. شاه امر نمود تا درجاده های مخصوصي در پایتخت تابلوها ګذاشتند و نوشتند: هیچ زني با برقع نمیتواند از اینجا عبور نماید... شاه امر نمود که تمام مردم در شهر کابل دریشي و کلاه«انګلیسي» بپوشند، و در هرچند قدمي پولیس ایستاده بود که از متخلفین جریمه نقدي میګرفت، قطع نظر از مصارف دریشي که از توان اکثریت مردم خارج بود، برای تطبیق این امر هیچ مغازه بزرګی که اقلاً برای صد هزار نفر دریشي و کلاه داده بتواند موجود نبود، لهذا اغلب دکانداران کلاه های افسران نظامي در سر میګذاشتند، مردم سکهـ که مذهباً مرهای ناګرفته خود را در دستار های بزرګ می پیچیدند، ناچار بودند که با کلاه هاي پشمي کشدار، سر و دستار خود را یکجا بپوشانند، و این خود شهر را بیك تابلوی کاریکاتوری مبدل ساخته بود خصوصاً که سلام دادن با دست منع شده و بایستي برسم فرنګ کلاه از سر برداشته شود.» د امان الله خان یاد شوي اسلام ضد اقداماتو، دکفري هیوادونو احساساتي تقلید او ذهني انحرافاتو افغانستان یوځل بیا پسماني، جګړو او اختلافاتو اور ته ورټیله کړچې خپله دده د زوال سبب وګرځیدل، او په نتیجه کې یې، حبیب الله «سقاء» زوی، او بیا نادرشاه او ظا شاه میښ ته راغلل. د امان الله خان د دوره سیکولریزم شیندل شول تخم ختني نه شو د دولت په اداره کې بیا هم سیکولر عناصر مسلط وو. چې په ۱۹۵۹م(۱۳۳۸ ش) کال کې ظاهر شاه د یوه شاهي فرمان له مخې ښځو ته له پردې څخه د راوتلو اجازه ورکړه او وروسته یې کمونیستي او نورو سیکولر ګوندونو ته د فعالیت کولو اجازه ورکړه چې په نتیجه کې یې هیواد لومړی د کمونیستانو په لاس کې ولوید او وروسته نیغ په نیغه روسانو اشغال کړل. د هیواد دیني عالمانو د کفر په خلاف د جهاد فتوی ورکړه د کالونو کالونو جهاد په نتیجه کې چې هیواد په بیرانه بدل شو او اتلس لکه افغانان په شهادت رسیدلي دي، تش په نوم اسلامي دولت مینځ ته راغلی، برهان الدین رباني بیرته د اما الله خان په لاره روان دی، د هیواد واکې د پخوانیو کمونیستانو په لاس کې دي، د هیواد دیني عالمان او دینداره قوماندانان او مشران دمجاهد ملامحمد عمر اخوند ترمشرۍ لاندې ددغه فساد په خلاف جهاد کوي، له نیمايي نه زیات افغانستان یې آزاد کړی ، اسلامي شریعت یې تطبیق کړی او د نور افغانستان د آزادولو دپاره جهاد او مبارزه دوام لري، امید ده چې دغه ښمیته به ژر پایته ورسیږي.

کنترول شدید طالبان موجب کاهش محصولات مواد مخدره در افغانستان گردیده است

محصولات تریاك در ولایت بدخشان نسبت بسال ۱۹۹٤م ۱٦٤ در صد افزایش یافته است

در کنر حتی در کنار جاده ها کوکنار کشت گردیده است (UNDCP)

طالبان در کنترول مواد مخدره و تأمین امنیت پیروزیهای راستین کسب کرده اند. (داود جنبش B.B.C)

در مناطق تحت کنترول طالبان تریاك و هیروئین از بین رفته و یا بالکل کاهش یافته است

خبرنگار ما از قول اداره، (UNDCP) در پشاور خبر میدهد که:

حاصلات مواد مخدره در افغانستان به حد قابل ملاحظه، کاهش یافته است.

کنترول شدید طالبان در ولایات غربی و جنوب غربی افغانستان و بالا رفتن قیمت گندم سبب گردید که محصولات مواد مخدره در افغانستان کاهش یابد. در گزارش خود اداره، کنترول مواد مخدره، سازمان ملل متحد (UNDCP) تحت عنوان کاهش محصولات کوکنار و تریاك در سال ۱۹۹۵ در افغانستان که اخیراً منتشر شده است. در آن آمده است که برای اولین بار بعد از اخراج قشون روسی از افغانستان محصولات کوکنار و تریاك در این کشور به میزان قابل ملاحظه، کاهش یافته است.

راپور UNDCP می افزاید:

در قندهار نسبت عدم بارش بارانها در اوقات و موسم لازم و هراس مردم از نابود ساختن کشتزارهای کوکنار توسط طالبان عامل عمده، کاهش محصولات مواد مخدر دراین ولایت به حساب میآیند. که در نتیجه ۳۸٪ کاهش در محصولات سالانه، کوکنار و تریاك گردید.

ارزگان: مشکلات دهاقین جهت انتقال محصولات شان به مراکز تولید مواد مخدره در پاکستان، افزایش قیمت گندم در بازارها و زیانهای ناشی از آفتهای طبیعی، محصولات تریاك را ٦٦٪ کاهش داده است.

هلمند: تهدید جدید طالبان در جریان ماههای نوامبر ودسامبر سال ۱۹۹٤ دهقانها را نسبت به کشت کوکنار مترده ساخته ودر این ولایت محصولات کوکنار ۸٪ تقلیل یافت.

نیمروز : کشت کوکنار در دو ولسوالی آن ولایت بیشتر رواج داشته قاچاق ووسایل ترانسپورتی آن در اختیار بلوچها میباشد.

قیمت نازل تریاك در بازارهای فروش آن، افزایش نرخ گندم و بالارفتن دستمزد کارگران جمع آوری تریاك موجب کاهش محصولات تریاك در این ولایت گردید.

قابل یاد آوری است که: احصائیه، منتشره، مؤسسه، UNDCP به ارتباط کاهش تولید مواد مخدره در ولایات زابل، هلمند، نیمروز، فراه، غور قبل از کنترول مؤثر و همه جانبه، تحریك اسلامی طالبان در آن ولایات بوده و بعد از کنترول همه جانبه، تحریك بر آن ولایات گفته میتوانیم که تحریك اسلامی طالبان به نصرت خداوند مؤفق شدند همه، کشتزارها و وسائل تولید مواد مخدر را از بین برده و بر منع آن کنترول جدی و نافذی وضع نمایند.

که در ذات خود یك پیروزی تاریخی طالبان است علیه تولید مواد مخدره در این مقطع از زمان ومکان.

کنر: به خاطر جلب توجه ادارات بین المللی و سرمایه گذاری سازمان ملل به خاطر جلوگیری از کشت کوکنار، دهقانها حتی در کنار جاده ها کوکنار کشت کرده اند. مقدار کشت کوکنار در این ولایات کماقی السابق بوده و هیچگونه کاهشی در محصولات آن دیده نشده است.

بدخشان: تقاضای شدید مردم آسیای میانه نسبت به تریاك افغانستان و افزایش معتادان در مناطق اسماعیلیه نشین بدخشان موجب افزایش کشت کوکنار دراین ولایت شده که محصولات تریاك در این ولایت نسبت به سال ۱۹۹٤م ۱٦٤ در صد افزایش یافته است. این بود فشرده، احصائیه، منتشره، از جانب اداره، UNDCP به ارتباط کاهش مواد مخدره در پشاور.

و قابل تذکر است که: مناطق وولایاتیکه تحت تسلط اداره، هند و روس کابل و یا سایر گروهها بوده افزایش سرسام آور کشت واستعمال مواد مخدر و نشه آور در آن مناطق رو به افزایش بوده که بدخشان نشانه، خوب و واضح آن میباشد. و در کنار سایر جرایم اخلاقی ضد دینی از قبیل لواط، فحشاء، سرقت، قتل به خصوص در ملیشه های اداره، هند و روس کابل، افزایش معتادان به چرس رو به افزایش بوده و بیشتر از ۵۰٪ میرسد که آینده، نسل جوان و وضع اخلاقی کشور از این ناحیه شدیداً قابل تشویش و تأسف میباشد.

کنترول شدیدی بر مواد مخدر نشه ئی در مناطق تحت تأثیر طالبانرا داود جنبش خبرنگار B.B.C در راپور چشم دید خود از قندهار و هرات در این اواخر چنین تائید مینماید:

در هرات و قندهار نسبت به جلال آباد فروش چرس و سگرت معمول بالکل کم میباشد، طالبان در کنترول مواد مخدره و تأمین امنیت پیروزی های راستین کسب کرده اند.

ملا خیر الله آخند در ارتباط اظهارات صد در صد دروغ و ظالمانه، به اصطلاح معاون وزیر خارجه، اداره، هند و روس کابل در شورای امنیت سازمان ملل متحد که گفته است: « طالبان به کمك پاکستان به خاطر تقویه، بنیه، اقتصاد خود به تولید تریاك و هیروئین پرداخته اند ».

مولوی خیر الله

گفت: عملکرد ما در مناطق تحت تسلط ما نشان میدهد که طالبان مخالف این کار بوده که با ورود طالبان بر مناطق تحت تسلط شان تولید مواد مخدر از بین رفته و یا کاهش یافته است.

ملاخیر الله آخند افزودند که: ایران هم این سخن را قبول دارد که به آمدن طالبان مسئله، تریاك بالکل حل شده و همه، وسائل تولید هیروئین ازبین برده شده است.

ما با تعلیم زنها مخالف نیستیم

ما با کشورهای خارجی به خصوص پاکستان ارتباط نداریم

مولوی یارمحمد والی هرات

خبرنگار هفته نامه، شریعت از هرات خبر میدهد که، والی هرات محترم مولوی یارمحمد در حالیکه منشی شورای جهادی محترم حارنوال عبدالولی، مسئول امور خارجه، آن ولایت، محترم ملا محمد آصف و مسئول کمیسیون نظامی محترم مولوی قیام الدین موجود بودند روز سه شنبه ۱۳۷۵/۱/۲۲ با مسئول رادیوی بی بی سی و محترم رحیم الله یوسف زی ملاقات نمودند.

والی محترم هرات به سوالهای نماینده، بی بی سی جواب ارائه داشته و به ارتباط حالات کشور گفتگوی مفصلی با اوشان نمودند.

والی هرات گفتند تحریك اسلامی طالبان با کدام زبان و سمت خاصی تعلق نداشته بلکه این تحریك حیثیت افغانستان شمول را دارا میباشد، به ارتباط تعلیم و تحصیل زنها محترم والی صاحب به مسئول نماینده، بی بی سی گفتند: ما به ارتباط تعلیم زنها کدام مخالفتی نداریم بلکه به اساس تجویز و هدایت دین مقدس اسلام به ادامه، تعلیم وتحصیل اوشان موافق میباشیم. و غرض رفع مشکلات اقتصادی زنهاییکه قبلاً در ادارات کار میکردند معاشات اوشانرا همچون سایر کارکنان ادارات دولتی در منازلشان به اوشان تادیه میداریم.

ملا یارمحمد آخند در جواب این سوال که با کدام دولت خارجی ارتباط دارید؟ گفتند: ما با هیچ کشور خارجی به خصوص پاکستان هیچ نوع ارتباط نداریم ما مسلمان هستیم و بر ایمان خویش تکیه داریم.

مولوی صاحب به ارتباط سیاست طالبان گفتند: هدف عمده واساسی ما تطبیق و تنفیذ احکام دین مقدس اسلام و قرآن کریم میباشد.

به ارتباط کشیدن خرقه، مبارکه، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم درجواب سؤال نماینده، بی بی سی گفتند: ملت مسلمان افغان که در طول تاریخ با چنین مشکلات مواجه شده اند خرقه، مبارك را کشیده وبه حضور خداوند مهربان زاری و دعا کرده اند تا خداوند جل جلاله مشکلات آنها را رفع نماید، ما هم غرض رفع همین مشکلات یك بار دیگر خرقه، مبارك را کشیدیم تا به برکت آن خداوند بزرگ ملت زجر کشیده، مارا ازاین بحران فعلی نجات بدهد.

د جنوبي ولایاتو د احمد زیو د قام یو شمیر مشرانو د عالی شورئ له سرپرست سره وکتل

د جنوبي ولایتونو د احمد زیو د قام یو شمیر مشرانو د هریو ساغلي حاجي نظر گل ، ساغلي حاجي محمد انور او ښاغلي حاجي حضرت خان په مشرئ د طالبانو د عالي شورئ له سرپرست حاجي ملا محمد حسن اخند سره د طالبانو د اسلامي تحریك په میلمستون کی وکتل.

د شریعت د اوونیزې خبریال له کندهار ولایت څخه خبر راکوي چي د کتنې په جریان کی د احمد زیو د قام مشرانو د طالبانود اسلامي تحریك د کړو اجراآتو ستاینه وکړه او د عالي شورئ سرپرست ته یې د امیرالمؤمنین په توگه د مجاهد ملا محمد عمر اخند د ټاکل کیدو مبارکي ووېله.

خبریال زیاتوي چي په دې کتنه کې دجنوبي ولایاتو د یو لړ موضوعاتو په باب بحث وشو او حاجي ملا محمد حسن آخند د هغوی د مشکلاتو د حل په اړه هغوي ته ډاډ او اطمینان ورکړ، زیاته یې کړه د جنوبي ولایاتو مسلمانو او دیندارو خلکو د طالبانو اسلامي تحریك ته په ډیره مینه هرکلي ووایه او د هغو د پروگرامونو ملاتړ یې وکړ، موږ په داسې حال کې چي دغه اسلامي تحریك د ټول مسلمان ملت تحریك بولو د جنوبي ولایاتو د هر اړخیزې همکارۍ ژمنه کوو.

خبریال زیاتوي په دې کتنه کې د غزني ولایت د ناوې د ولسوالي محترم مولوي عبدالحق هم برخه درلوده. د احمدزیو د قام د مشرانو په نمایندگي ښاغلي حضرت خان وویل: چي په جنوبي ولایاتو کی حالات ښه دي، ده د طالبانو له اسلامي تحریك سره د هغو ولایاتو د خلکو پوره ملاتړ او تنگ ښکاره کړه او د طالبانو د اجراآتو په اړه یې د خپلې خوښئ څرگندونه وکړه.

د ښوونی او روزنی ...

عالي شورئ غونډه وکړه، غونډه د عظیم الشان قرآن د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه او بیا په اجنډا کی په شاملو موضوع گانو پاندې په تفصیل سره خبرې وشوې، زموږ خبریال له کندهار څخه خبر راکوي چي د عالي شورئ له خوا د ښوونې او روزنې او د پوهنتون د چارو د سمون په اړه یو څلورکسیز کمیسیون وټاکل شو ترڅو د ښوونې او روزنې او د پوهنتون د چارو د لا ښه سمون او انسجام لپاره گټور پروگرامونه برابر کړي. په دې کمیسیون کی ملا نورالدین ترابي، ملا حاجي محمد صادق اخند، ملا حمید الله اخند او مولوي عبدالشکورحقاني برخه لري.

یك عراده موتر ...

مدت چهار سال کوشیدیم که موتر متذکره را بدست آریم موفق نشدیم اما امروز به کوشش و همکاری والی صاحب و سایر مسئولین ولایت پکتیکا موتر متذکره دوباره بدست می آید. ابلاغ صاحب از نماینده، تحریك اسلامی طالبان محترم امیرجان(ثاقب) به این ارتباط تشکر نموده افزودند در مناطق که امنیت تأمین نباشد در آنجا ما فعالیت نمی کنیم. به اساس اختطاف موتر مذکور فعالیتهای ما در ولایت پکتیکا معطل گردیده بود، که در آینده، قریب فعالیتهای ما درآن ولایت دوباره آغاز خواهد شد.

دوه تنه قاتلان ...

خبریال زیاتوي چي د طالبانو د اسلامي تحریك سپاهیانو د هغو شواهدو له مخی دغه قاتلان نیولي دي چي ددوی په واك کی ورکړې شوي وو او دغه دوه تنه قاتلان یې د شرعی جزا لپاره شرعی محکمی ته سپارلي دي، دوسیه ترتحقیق لاندی ده او څېړنې دوام لری.

د کندهار د کرنې او اوبو لگولو په ریاست کی غونډه وشوه

له کندها رڅخه د شریعت د اونیزې خبریال خبر راکوي چي د وری په ۲۱ نیټه د هغه ولایت د کرنې او اوبو لگولو په ریاست کی د هغه ریاست د اداری چارو د لا ښه سمون په اړه غونډه وشوه.

خبریال زیاتوی په دی غونډه کی چی د کرنې او اوبو لگولو د ریاست د اداری چارو د لا ښه سمون په اړه جوړه شوي وه د کرنې او اوبو لگولو د ریاست ویاند محترم محمد نسیم اخند، د کرنې او اوبولگولو د ریاست مرستیال ملا محمد صادق اخند، له بهرنیو مؤسساتو سره د اړیکو مسؤل حاجی ملا عتیق الله اخند ، د F.A.O د مؤسسی مسؤلین هر یو ښاغلی سید شریف وحدت، حاجی عبدالکریم او د اداری چارو یو شمیر مسؤلینو گډون کړی ؤ.

خبریال زیاتوی په دی غونډه کی د کرنې او اوبو لگولو د چارو د مشکلاتو په اړه گټوری خبری وشوي او لازم تدبیرونه ونیول شول.

یوه زیاته اندازه مهمات کشف او ونیول شول

دغزنی له ولایت څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دغزنی د رباط په غره کی یوه زیاته اندازه مهمات د اسلامی تحریك د سپاهیانو له خوا کشف او ونیول شول.

خبریال زیاتوی چی په دی مهماتو کی د منځنی هاوان پنځه سوه گولی، ۲٤۰۰ دانی د زیکویو او داشکی گولی، دوه سوه دانی د تخریبی راکټ گولی، دری سوه دانی د وسط راکټ گولی، ٤۰۰ دانی د ۷۵ ملی متری توپ گولی او ٤۰۰ دانی د ۸۲ ملی متری توپ گولی شاملي دی.

خبریال وایی چی د نورو مهماتو د ترلاسه کولو لپاره څېړنې او پلټنې روانی دی او ترلاسه شوي مهمات د ١٤ فرقی د مهماتو ځانگي ته وسپارل شول.

ضروری یادونه

د شریعت د اوونیزې د (۱۵) گڼې په ادبی پاڼه کی د «په شا نه راځم» تر نامه یو شعر سهواً د لایق احمد النیام په نامه خپور شوی دی، په داسی حال کی چی شعر د محترم شفیقی صاحب دی او لایق احمد النیام د چاپ لپاره خوښ کړی و، موږ په دی توگه له محترم شفیقی صاحب څخه د بخښنی غوښتلو تر څنگ د هغه د هر ډول نظم او نثر د همکاری لپاره سترگی په لاره یو. په درناوی (اداره)

موږ له هر ډول توپیر څخه ...

ویلو په ترځ کی وویل: موږ له هر ډول توپیر څخه پرته د قام ټولو حجاجو د آسانتیاؤ د ورکولو وعده کړی ده.

ده وویل: که څه هم موږ له محترمو حاجیانو سره وعده کړی وه چی ۳۰۰ ډالر به بیرته ورکوو، خو ديو لړ مشکلاتو له امله مو د نورو شپږ زره کلدارو غوښتنه هم وکړه، چي د امیر المؤمنین او د اسلامي تحریك د نورو غړیو په خاصه پاملرنه له دوی زره لکه څخه زیاتی پیسی د حاجیانو د آسانتیاو په خاطر مصرف شوی او په دی توگه به د حاجیانو صاحبانو ډیر مشکلات له منځه ولاړ شی.

د حج او اوقافو رئیس په پای کی وویل: د حاجي صاحبانو د بیرته راتگ په وخت کی به هغوی ته دری سوه ډالر بیرته ورکول کیږی.

امیر المؤمنین...

قوماندی او اوامرو تابع دي.

ده وویل: دښمن چي د حق په مقابل کی دریدلی زموږ د مجاهدینو په وړاندی ډیر کمزوری مورال لری او د مقاومت توان یی له لاسه ورکړی دی.

خبریال زیاتوی چی په مقابل کی امیر المؤمنین په لومړیو کرښو کی د پرتو مجاهدینو د هلو ځلو ستاینه وکړه او د حق د پلی کولو په لار کی یی هغوی ته لازمی لارښوونی وکړی.

د طالبانو د اسلامی ...

د تش په نامه اداري قواوو ناکامه حمله په شا وتنبول شوه او د طالبانو د اسلامي تحریك مجاهدینو د تولك او ساغر ولسوالیو ونیوی. په خبر کی زیاته شوی ده چی ددغو ولسوالیو تر نیولو وروسته اوس د اسلامی تحریك مجاهدین د غور ولایت د مرکز چغچران په لور مخ په وړاندی روان دی او انشاء الله ملت به ډیر ژر د چغچران د فتحی زیری واوري.

یادي دی نه وی چی د هرات تر فتحی وروسته د طالبانو د اسلامی تحریك مجاهدینو د غور ولایت چغچران ونیو خو ددی لپاره چی په هغه ولایت کی مشکلات را منځ ته نهشی نو د ولایت چاری د هغی سیمی خلکو ته وسپارل شوی، خو له بده مرغه په وروستیو شپو ورځو کی یو شمیر خائینو عناصرو د کابل له اداري څخه د پیسو په تر لاسه کولو سره وغوښتل چی په سیمه کی حالات کړکیچن کړی، خو د طالبانو د اسلامی تحریك مجاهدینو د سیمی د تصفیی لپاره پراخ عملیات پیل او په بری سره مخ په وړاندی روان دی چی د مهربان خدای(ج) په مرسته به ډیر ژر د غور ولایت له تخریبی عناصرو څخه تصفیه شی.

د افغانستان مسلمانان له اسلامی ...

ده زیاته کړه: د افغانستان باغیرته او با شهامته ملت له اسلامی نظام نه پرته د بل هیڅ ډول کفری، د هری، ظالم او جابر نظام حاکمیت ته نه شي منلای، د افغانستان مسلمان ملت څوارلس کاله د همدغه مقدس مرام لپاره قربانی ورکړی او د روس، هند او ایران د ناولو هلو ځلو مقابله یی کړی ده.

ده وویل: موږ ژمنه کوو چي د طالبانو له اسلامی تحریك سره به اوږه په اوږه همکاری کو و او هر ډول سرښندنو ته تیار یو ترڅو په هیواد کی یو سوچه اسلامی نظام ټینگ شي او د خاینانو شوم اهداف خنثی شی.

د هلمند په ولایت کی یوه اندازه...

زموږ خبریال د هلمند له ولایت څخه خبر راکوي چي دغه مهمات او وسلی د هلمند ولایت د سنگین ولسوالۍ د مرستیال ملا عبدالکریم له خوا کشف او نیول شوی دي چي اته پایی د ټانگ مخابری، ١٤ میله زیکاویك ماشیندار، اته عدده د ټانك پکسونه، دری پټی د داشکی گولی، ۱۹ دانی سکلان، ١٥ دانی دوربینونه، ۳۵۲ دانی عسکری تجهیزات او ۱۲۱ دانی کاروانی پکی دی.

خبریال زیاتوي دغه وسله او مهمات شیر محمد نومی زیرمه کړی او غوښتل یی په غیر قانونی توگه یی وپلوری، د نورو مهماتو او وسلی پلټنه هم روانه ده.

د حج په اهمیت ...

د هغه ولایت والي او د اسلامی تحریك د عالي شورئ سرپرست، د بیت الله شریف په لور د تلونکو حاجیانو د لومړی کاروان له ډلی سره وکتل، ده حجاجو ته په خطاب کی د حج د فریضی د اهمیت په باب گټوری خبری وکړی او له حاجیانو څخه یی وغوښتل چی په هغه مقدس مقام او ددوعاؤ د قبلیدو په وخت د افغانستان د مسلمان او مظلوم ملت د سوکالی او آرامی لپاره له لوی خدای(ج) څخه دوعا وغواړي. ورووسته محترم والي صاحب، حاجی صاحبانو ته مخه ښه وویله.

د کابل تش په نامه ...

ملت ته په ډاگه کړه، ددغی تش په نامه اداری بم غورځوونکو الوتکو غوښتل چي د طالبانو د اسلامی تحریك مرکزونه تر اور لاندی ونیسی، خو ددی پر ځای چي پرهدف بمونه وغورځوی په میدان ښار او چار آسیاب کی یی د خلکو د استوگنو پر سیمو بمونه وارول چي په نتیجه کي یی ۱۲ تنه ملکی کسان په شهادت ورسول.

خبریال زیاتوی چی د کابل د تش په نامه اداری دغه عمل د عامو خلکو په زړونو کی کرکه او نفرت زیات کړی او ددی سیمو مسلمان خلك یی زښت زیات پارولی دی.

د اسلامی تحریك مرستیال...

د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شو او بیا د کندهار په تاریخی غونډه کی دعلماء کرامو د نظریو او پیشنهادونو په اړه څېړنه پیل شوه، کمیسیون به څو ورځی دوام وکړی. خبریال زیاتوی چی په دی کمیسیون کی حاجي معاون، شیخ الحدیث مولوي عبدالقادر، مولوي مبارك د جامع مسجد خطیب ، مولوی الحاج محمد طاهر انوری ، ملا عبدالحکیم منیب او ملا امیرخان متقی هم گډون لری. خبریال زیاتوي چی اسلامي تحریك به د خپلو پروگرامونو په پرمخ بیولو کی د علماء کرامو پیشنهادونه او مشوری خپله تگ لاره وگرځوی او ددوی درغنده مشورو په رڼا کی به پرمخ ولاړ شي.

که له ربانی سره دوه ...

غورځنگ مشر مجاهد ملا محمد عمر آخند ته د امیر المؤمنین د لقب ورکولو په اړه د یوشمیر کسانو انتقادونه رد کړل او وی ویل چی اسلامی شریعت ددي کار اجازه ورکړی څکه نو پدی اړه د خلکو انتقادونه هیڅ شرعی اساس نه لری.

مولوي تره خیل وویل: ما د عالمانو تاریخی غونډی ته پخپل خطاب کی هم وویل چی دوي د فشار د مخنیوی لپاره راوتلي دي په پنځلسو ولایتونو کی یی امنیت راوستلی او په دی ټولو ولایتونو کی مسلمانان اوسیږی څکه نو ورته د امیرالمؤمنین خطاب ورکول کیدای شي.

ده وویل : څوك چي دا خبره کوی چي دغه لقب یوازی پخوانیو مسلمانانو ته ورکول کیدای شي دا د شریعت خلاف یوه خبره ده څکه چي د دریو تنو مشر ته هم امیرالمؤمنین ویل کیدای شي، نو څوك چي په دی خطاب تنقید کوی هغه له شریعت څخه ناخبره دی.

ددی پوښتنی په ځواب کی چی د کندهار په تاریخي غونډه کی د طالبانو تر فشار لاندي فیصلي شوي دی، مولوي تره خیل وویل: دا خبره څکه اساس نه لری چي ماهیڅکله هم د چا فشار نه دي منلی، په دي غونډه کی ما اعلان کړی دی او ما فتوی ورکړی ده ده وویل ترڅو پوری چي له ربانی سره دوه تنه کمونیستان هم موجود وی، د هغه پر خلاف د جهاد فتوی پر ځای ده.

ده وویل: د کندهار تاریخی غونډه یوازی او یوازی د پښتنو د عالمانو غونډه نه بلکی د هیواد د ټولو ولایاتو عالمانو پکی برخه اخیستی وه، د محمود مستیري په اړه یی وویل چی: هغه ناکام ؤ، ناکام دی او ناکام به وی .

په پای کی مولوی صاحب د دوو جهادی مشرانو په اړه وویل چی دوی به هیڅکله پخپلو کی سره جوړ نه شي او دا خبره ما یوولس کاله پخوا هم کړی ده او یو ځل بیا هم وایم چي ددوی د جوړیدو امکان نشته.

موږ غواړو په هیواد کی ...

ټوله نړۍ د ربانی په دغه خیانت باندي خبره ده، ربانی ته د یوه مسلمان او افغان په صفت پکار وو چي نور یی د ملت د ځورولو څخه ډډه کړی وای، توبه یی ایستلی وای او قدرت یی د افغانستان خلکو ته سپارلی وای، خو ددی برعکس ربانی د اسلامی جهاد او مجاهد ملت په خلاف د یوه بل ستر جرم مرتکب شو چي روسانو ته یی د افغانانو په خلاف د دیارلس کلنی ورانوونکی ویجاړونکی او ویرونکی جگړی برائت ورکړ. د ربانی دغه **اعلان چي روسان د افغانستان د جگړی مسول نه دی، له خدای(ج) سره دښمنی ، جهاد سره خیانت ، او د یوڼیم میلیون شهیدانو د ارمانونو سره جفا ده، چي د بښنی ور نه ده.**

د روسي بندیانو په اړه د یوی پوښتنی په ځواب کی محترم معاون صاحب وویل: روسي بندیان به ترهغه پوری له موږ سره وی څو روسانو ځمونږ دشپیته زره بندیانو سرنوشت معلوم کړی نه وی، ددی دپاره چي د طالبانو اسلامي تحریك د افغانستان د خلکو تحریك دی، د دینی عالمانو په لارښوونه پیل شوي، هره فیصله به په آینده کی د دینی عالمانو په لارښوونه او مجاهد ملت د گټو په رڼا کی کیږی. موږ نه غواړو خپلی فیصلی په خلکو باندي تحمیل کړو، موږ غواړو چي د ملت د سرنوشت په ټاکلو کی مسلمان ملت او اسلامی پوهانو ته رجوع وکړو څو خپلی فیصلی د اسلامی شریعت په چوکاټ کی د مجاهد ملت په مشوره او د خلکو له ارزوگانو سره سم رامینځته کړو.

په پای کی محترم معاون صاحب د شریعت اونیزی د اسلامی، جهادی او علمی خپرونو ستاینه وکړه او کارکونکیو ته یی له الله تعالی څخه د لا زیات خدمت کولو دعا وکړه.

موږ له ربانی سره ...

سره اسلامي تحریك ترون لری او که نه؟ هغه وویل: اسلامی تحریك په مشخصه توگه له هیڅ بهرنی هیواد سره ترون نه لری. له ربانی سره د خبرو په اړه د یلی پوښتنی په ځواب کی ښاغلی متقی وویل: له ربانی سره خبرو ته ځکه نه یو حاضر چي هغه د خبرو په وخت کی د جنگ تیاری نیسی او د خپل قام پر خلاف یی عمل کړی دی، مطلب دا چی له ربانی سره مذاکرات نتیجه نه ورکوی.

ښاغلی متقی د خبریال د دی پوښتنی په ځواب کی چي تاسو وعده کړی ده د روسانو الوتکه خوشی کړی وویل: دا خبره موږ تر اوسه پوری نه ده کړی او نه ددی تکل لرو.

ملی گرایی در ...

و ملي گرایان ارتباط فسلفی ناسیونالیزم را با انقلاب کبیر فرانسه چنین نشاندهی مینماید: وارتباط فسلفی ناسیونالیزم با انقلاب کبیر فرانسه در دو نقطه خلاصه میگردد: نخست اینکه ناسیونالیزم حاکمیت را حق مردم میداند، دوم اینکه هر ملت در امکانات حدود جغرافیایی خودحق ایجاد دولت مستقل را دارد.

در اعلامیه، انقلاب کبیر فرانسه هم این اختیار به ملت سپرده شده تا سرنوشتخود را خود تعین نمایند و ملل لائق آن دانسته شدند تا مطابق میل خویش حکومتهای ملی مبتنی بر اساسات جمهوری بمیان آرند و قبول گردیده که در روی زمین حاکمیت حق مردم است نه حق شاهان و افراد، و ملت به حیث مرجع نهایی تصمیم گیری سیاسي معرفی گردید. « از ارتباط فلسفی ناسیونالیزم با انقلاب کبیر فرانسه معلوم میگردد که مبدأ ومرجعه حرکت شعوری ناسیونالیزم چه غربی و چه شرقی انقلاب کبیر فرانسه بوده و انقلاب کبیر فرانسه میباشد. که ناسیونالیزم شعوری را به میان آورده و همان ناسیونالیزم غربی که زاده، انقلاب کبیر فرانسه بود درجریان و نتیجه، عامل قوی تجاوز/فاشیزم و استعمار گردید و بزرگترین فاجعه، انسانی، اقتصادي و سیاسي را سبب گردید، انحراف ناسیونالیزم غربی که مرجعه عمومی ناسیونالیزم شعوری جهان بوده ، هیچ نوع تضمین را در میان نیگذارد و منطقی جلوه نمی دهدکه بگویم ناسیونالیزم شرقی در صورت توان و قدرت به انحراف مواجه نشده و وسیله، تجاوز، غصب حقوق دیگران، فاشیزم ، شئونیزم و راسیزم نه شود.

د کندهار د روغتیا د ریاست خبرتیا

ټولو هغو داکترانو او طبی پرسونل ته چي په میرویس روغتون کی وظیفه لری، خبر ورکول کیږی چي پر ټاکلی نیټه خپلو وظیفو ته حاضر شي، د غیرحاضری په صورت کی ددوی په باب چي هره فیصله کیږی بیا به د شکایت حق نه لری.

د کوکنارو د کرلو په هکله د کندهار د امنیه قوماندانی خبرتیا

امنیه قوماني ټولو کروند گرو ته خبر ورکوی چي وروسته له دي د بنگو او کوکنارو له کرلو څخه په جدي توگه ډډه وکړي، څکه دا یو ناروا کار دي او هیڅوك حق نه لری چي دناروا کار په دوام ټینگار وکړي.

تصحیح

په تیره (پنځلسمه گڼه) دوهم مخ کی د مسلماني عقیدي مضمون ورووستی دوه لیکی داسی ولولئ: په اهل قیاسو کی هیڅوك داسي نشته چي قیاس به یی په ثابت سنت او ثابت حدیث مخ ته کړی وی.

یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه درنکړی چی دا دول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)

د گډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$: 75	$: 150

SHARIAT WEEKLY

Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.

Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.

Tel : 840378

PAK - RUPE A/C, CD. No. 1694 -69.

Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)

Peshawar, Pakistan